# همبستگۍ غږ

د افغانستان د همبستګۍ ګوند خپرونه


۱۱
پښتو
منی ۱۳۹۶


د افغانستان د نیواک کلیزې په مناسبت د «همبستګۍ ګوند» اعتراضي غونډه

۴ مخ



# همبستګي

د امتیاز خاوند: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

مسئول مدیر: سیدمحمود همرزم

ګرځنده: ۰۰۹۳-۷۰۰-۲۳۱۵۹۰

د جواز شمیره: ۸۷


**د ګوند موخې**

- د خپلواک، آزاد، دموکراتیک او یو موټي افغانستان.
- د سیکولاریزم او دیموکراسۍ پر ستنو ولاړ ملي یووالی.
- د ښځو او نارینه او د هیواد ټولو پرګنو مساوي حقوق.
- د هر ډول بنسټ پالنې او بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې مبارزه.
- د امریکایي او ناټو نیواکګرو قوتونو سم لاسي وتنه.

## پدې ګڼه کې:


د امریکا، ناټو او د هغوی د لاسپوڅو په شتون کی، سوله او نیکمرغي ناشونی ده!............................ ۱
د افغانستان د نیواک کلیزې په مناسبت د «همبستګۍ ګوند» اعتراضي غونډه............................ ۴
خویندو، په یوې منظمې مبارزې سره د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی له ریښې راوباسو! ............................ ۷
شهید عبدالخالق زموږ د هیواد رښتینې اتل دی............................ ۱۱
د کابل پوهنتون ټولنیزو علومو فارغینو ته د سیلۍ غفار وینا............................ ۱۹
د بدخشان د ښوونځیو دردناکه انځورونه............................ ۲۲
د یوی ډوډې په بدل کې «د غوبګانو» یو ورځینې ستونزمن کار............................ ۲۵
د هیروینو په قاچاق او تولید کې د ګلبدین اسلامی حزب لاس لرل............................ ۲۸
ښوونکي، د هیواد بیوزله وګړي............................ ۳۲
لاسوندونه: ایران عراق جګړې ته د افغانانو لیږلو په بدل کې د ایرانی مریانو قلنګ اخیستل............................ ۳۷
د ونزویلا دولت پر لاسته‌راوړنو د رسنیو سترګې پټول............................ ۴۳
جلریز، د مرګ او تیښتې لاره............................ ۴۷
آریا ثابت، د جبار ثابت ځوی زندان ته ولیږدول شو............................ ۵۱
مارسیلا: مور مې زموږ ټولی هیلې او خوښۍ له خپل ځان سره د خاورو لاندی کړی............................ ۵۳



اعلامیې

# د امریکا، ناتو او د هغوی د لاسپوڅو په شتون کې، سوله او نیکمرغي ناشونې ده!



د اکتوبر اوومه هغه بدمرغه ورځ ده چې زمونږ خلک یې نور هم د جنایت او ځناورتوب او بدمرغۍ کندې ته وغورځول. پوره شپاړلس کاله وړاندې امریکا او ناتو خپل بمونه د «دموکراسۍ لیږدولو» او «ښځو آزادۍ» تر نوم لاندې پر هغه کړیدلي ولس وورول چې له تیرو درې لسیزو راپدیخوا د جنایتکاره دولتونو له لوري لکه خلقیانو او پرچمیانو، د پیښور اوه‌گوني او تهران اته‌گوني تنظیمونو او ځناورو طالبانود خپلو ختیځو او لویدیځو بادارانو په ملاتړ، هره ورځ ځپل کیدل او وژل کیدل. خو

زمونږ د هیواد په نیولو سره، د افغانستان خلکو رنځ نور هم زیات شو: کلي او بانډې مو هره ورځ د امریکا او ناتو وینی‌بهونکیو ځواکونو له لوری بمباریږي او ډیری قربانیان یې ښځې او ماشومان دي؛ کلیوال د طالب او داعش او اربکی ترمنځ ځپل کیږي؛ ښاریان د طالبی او داعشی خنزیرانو په چاودنو او ځان‌وژنو کی ټوټه – ټوټه کیږي؛ ټوپک‌سالاره موږکان یې په داړونکو لیوانو بدل کړل او زمونږ په برخلیک یی واکمن کړل او په وروستۍ پیښه کی د «کابل قصاب» په نخرو او مکیز هرکلی وشو او د نورو ځناورو ترڅنګ و ټومبل شو؛ مذهبی توپیر ته منظمه توګه لمن وهل کیږی چې لومړني قربانیان یې زمونږ بی‌گناه هیوادوال دي؛ زمونږ خاوره د سیمې او نړۍ د جګړې او سیالیو په ډګر بدله شوی چې هره ګړی له سترګوابن سره

مخ ده؛ د ایران او پاکستان کرغېړن لاسونه تر وروستۍ کچې زمونږ په هیواد کې پرانستې پرېښودل شوي او زمونږ خاوره د هغوی د څارګرو بنسټونو په ځاله بدله شوې ده؛ د مخدره توکو تولید او قاچاق ددغه هیواد د اقتصاد اصلي سرچینه ګرځېدلې او درې میلیونه روږدي د هغې پایله ده؛ زمونږ بدمرغه ښځې د تیر په څیر په سوځونکې دوزخ کې کباب کیږي؛ فساد او چټلي او خیانت په دغه چوپړ دولت کې داسې ریښې ځغلولې چې له هغې څخه خلاصون څو لسیزو ځانوژونکې کار ته اړتیا لري او په زرګونو نور مصیبتونه او ناورینونه.

د ۱۳۹۶ کال د زمري په ۳۰مه (۲۰۱۷ کال د اګست ۲۱مه)، د امریکا دولت د افغانستان په اړه په اصطلاح خپله «نوی تګلاره» اعلان کړه چې یوځل یې بیا د خپلو افغانو چوپړانو په رګونو کې وینه وځغلوله. دغه چوپړان د امریکا جمهوري ریاست د ټاکنو د سیالیو پر مهال له ټرامپ څخه خوابدي و چې ولې یې خپل افغان نازولي هیر کړي او داسې نه چې له دوی څخه لاس په سر شي او دوی په یو وار یتیمان شي، له همدې کبله اشرف غني د هیلري کلنټن ټاکنیزو سیالیو لپاره هره میاشت پیسې لیږلې. خو په هماغه وخت کې، د «افغانستان همبستګۍ ګوند» دا په ډاګه کړې وه چې د کلنټن یا ټرامپ په راتګ سره، زمونږ د خلکو رنځ او کړاو نه کمیږي او د امریکا جنایتکارانه سیاستونه به په ځناوریزه توګه دوام ومومي. ددې تګلارې په اعلان سره، د نظام یو موټی ډونډوره‌چیانو او د امریکا سفارت ټوک‌خوارو چې د «کارپوهانو» او «شنونکو» درواغو لقبونه یې د نوم مخکې اضافه کړي او ددوی په سر کې، د ارګ چټلي‌پاک –شاه‌حسین مرتضوي- په بې‌شرمۍ او مستۍ سره خپلو واکدارانو ته لکۍ خوروي او بغاري وهي چې دا «تګلاره» د افغانستان لپاره «طلایي چانس» او زمونږ د ستونزو د حل کونجي ده. دوی دومره بې‌ننګه دي چې د امریکایي بادارنو په وروستیو هوایي بریدونو کې یې په هرات، لوګر، قره‌باغ او ...د قربانیانو وینو او د هغوی د کورنۍ غږو له دردہ ډکې چیغو هم ددوی ککړ وجدانونه و نه خوځول.

ټول او آن هغوی چې د پاکستان د مریتوب کړۍ یې په غاړه ده، له دې خوښ دي چې ګواکې پاکستان ددې لپاره چې له ترهګرو ملاتړ کوي، د سپینې ماڼۍ د مینت لاندې راغلی دی. خو نور زمونږ ماشومان هم په دې پوهیږي چې له څلورو لسیزو راپدیخوا پاکستان د امریکا په مالي او وسلوال ملاتړ د بنسټ‌پاله ترهګرو د تولید په کارخانه او د ځناورو ډلو لکه د

تنظیمونو، طالبانو، حقاني شبکې او نورو په امن ځای بدل شوی دی. یوازې دوه کاله وړاندې وه چې پنتاګون د اوه میلیاردو ډالرو په ارزښت هغه پوځي وسلې چې په افغانستان کې کارول شوې وې د پاکستان ترهګرروزونکي پوځ ته وسپارلې او ددې ترځنګ یې د یو میلیارد ډالرو په ارزښت پرمختللې وسلې هم هغه هیواد ته ورکړلې. پاکستان له نیمې پېړۍ راپدیخوا د امریکا د مالي مرستو له سترو لاستهراوړونکو څخه دی او ویل کیږي چې له ۲۰۰۱ کال څخه راپدیخوا لږ تر لږه ۲۱ میلیارده ډالر په نقدي شکل هغه هیواد ته ورکړل شوي دي. نن ددې لپاره امریکا د پاکستان غوړونه تاووي چې له چین او روسې سره له نږدوالي ډډه وکړي، خو هیڅکله خپل دغه ډاډمن ملګری او شریک چې د زړه له خلاصه ورته «ښه ترهګر» روزي، له لاسه نه ورکوي.

سږکال د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د امریکا، ایټالیا او فلپین د جګړې ضد له څو سازمانونو سره په ګډه نوښت یو حرکت د «پوځي هډو پر ضد نړیوال پیل» تر نامه لاندې پیل کړ چې هر کال مختلفې ټولنې د اکتوبر میاشتې په لومړۍ یا دوهمه اونۍ کې، لاریونونه او د پیوستون خوځښتونه په لاره اچوي. د همبستګۍ ګوند په دې باور ده چې ترهګرۍ او جګړهبلونکو قدرتونو او په سر کې یې د امریکا متحد ایالتونو، نړۍ له یو سترګواښ سره مخ کړې خو دوی د خلکو په فکرونو کې ملامت دي او اړتیا ده چې د پرمختللو او جګړې ضد سازمانونو له لوري یو نړیوال پیوستون رامنځ ته شي.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د ټولو کورنیو او بهرنیو پرمختللو ښستونو چې پر امپریالیستي او مرتجع هیوادونو پورې نه وې تړلې له دغه نړیوال یووالي سره د یوځای کیدو بلنې ترځنګ، یوځل بیا د افغانستان پر خلکو غږ کوي چې هیڅ بهرنۍ او مرتجع او لاسپوځي ځواک مونږ ته سوله او نیکمرغي نشي راوړلی مګر دا چې مونږ خپله یو موټی شو او په مبارزه او سرښندنې دا ارزښتونه لاسته راوړو. راځئ چې په پوهې او یووالي سره د کورنیو ښښتپالو او غیرښښتپالو ځواکونو او د هغوی د نیواکګرو ملاتړو پر وړاندې په نه ماتیدونکي ځواک بدل شو!

**د افغانستان د همبستګۍ ګوند**

۱۳۹۶ کال د تلې ۱۵مه – ۲۰۱۷ کال د اکتوبر ۷مه

گزارشونه




# د افغانستان د نیواک کلیزې په مناسبت د «همبستګۍ ګوند» اعتراضي غونډه




کابل – د ۱۳۹۶ کال د تلې ۱۴مه: نن د همبستګۍ ګوند یو شمیر غړي او پلویان د امریکا له لوری د افغانستان نیولو ۱۶مې کلیزې غندولو په موخه د «امریکا، ناتو او د هغو د لاسپوڅو په شتون کې، سوله او نیکمرغي ناشونی ده!» تر شعار لانده یوه اعتراضی غونډه لرله. د غونډې ګډونوالو له ځانه د امریکا او ناتو د هوایی بریدونو د قربانیانو انځورونه له ځانه سره چې پکې دا شعارونه هم په سترګو کیدل: «امریکایی هډې= د مریتوب او سپکاوی زنځیر منل!»، «د امریکا او ناتو ډالۍ: د بې‌ګناه وګړو وژنه او چړاو!»، «یوازې د نیواکګرو او د هغوی مریانو په شړلو سره دموکراسۍ او سوکالۍ ته رسیدلی شو!»، «په یووالي او پاڅون سره کولای شو پر نیواکګرو او د هغوی پر چوپړانو بریالي شو!»، «آزاد افغانستان د نیواکګرو او د هغوی وطنی ملاتړو په شړلو سره انځوریدلی شی او بس!».

آغلې سیلۍ غفار، د ګوند ویاندې په خپلو خبرو کې وویل:

«زمونږ د هیواد په نیولو سره، د افغانستان خلکو رنځ نور هم

زيات شو: کلي او بانډې مو هره ورځ د امريکا او ناتو وينی‌بهونکيو ځواکونو له لوری بمباريږي او ډيری قربانيان يی ښځې او ماشومان دی؛ کليوال د طالب او داعش او اربکی ترمنځ ځپل کيږي؛ ښاريان د طالبی او داعشی خنزيرانو په چاودنو او ځان‌وژنو کی ټوټه – ټوټه کيږي؛ ټوپک‌سالاره موږکان يی په داړونکو ليوانو بدل کړل او زمونږ په برخليک يی واکمن کړل او په وروستۍ پيښه کی د «کابل قصاب» په نخرو او مکيز هرکلی وشو او د نورو ځناورو ترڅنګ و ټومبل شو؛ مذهبی توپير ته منظمه توګه لمن وهل کيږی چی لومړنی قربانيان يی زمونږ بی‌ګناه هيوادوال دي؛ زمونږ خاوره د سيمې او نړۍ د جګړې او سياليو په ډګر بدله شوی چی هره ګړی له سترګواښ سره مخ ده؛ د ايران او پاکستان کرغيړن لاسونه تر وروستۍ کچې زمونږ په هيواد کی پرانستی پريښودل شوی او زمونږ خاوره د هغوی د ځارګرو بنسټونو په ځاله بدله شوی ده؛ د مخدره توکو توليد او قاچاق ددغه هيواد د اقتصاد اصلی سرچينه ګرځيدلی او درې ميليونه روږدي د هغې پايله ده؛ زمونږ بدمرغه ښځې د تير په څير په سوځونکی دوزخ کی کباب کيږي؛ فساد او چټلی او خيانت په دغه چوپړ دولت کی داسی ريښې ځغلولی چی له هغی څخه خلاصون څو لسيزو ځان‌وژونکی کار ته اړتيا لری او په زرګونو نور مصيبتونه او ناورينونه.»

د غونډې په پای کی، د همبستګۍ ګوند د ځوانانو د تياتر ډلې د امريکا او د هغې کورنيو چوپړانو تر سيوری لاندی د هيواد ناوړه وضعيت نندارې ته وړاندی کړ.



پایگاه‌های امریکایی
قبول زنجیر اسارت و ذلت!
HAMBASTAGI.ORG




HAMBASTAGI.ORG




YANKEE GO HOME
NO TO OCCUPATION
A Challenge to the World's Conscience!
تنها با طرد اشغالگران و مزدورانش می‌توان به دموکراسی و رفاه رسید.
HAMBASTAGI.ORG



اعلامیې

# خویندو، په یوې منظمې مبارزې سره د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی له ریښې راوباسو!



د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر په ۱۷مه، ملګرو ملتونو، د نوامبر ۲۵مه چې د دومینکین میشتو درې مبارزو خویندو چې د «میرابال خویندو» په نوم یادیږي ځناوریزه وژنه پکې ترسره شوه، دغه ورځ یې «د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي منع کیدو ورځ» باندې ونوموله.

ښایی د نړۍ په هیڅ ګوټ کې د افغانستان په کچه د «ښځو آزادۍ» او «د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو» او نورو زړه‌راښکونکو شعارونو په اړه خبرې نه وی شوی. په تیره بیا د امریکا د یرغل او د هغوی د چوپړانو د واکمنۍ په یوه نیمه لسیزه کی، افغانه ښځه د خاینو نیواکګرو او د هغوی د لاسپوڅو د ملنډو او غولونکو نندارو په اسبابو بدله شوی ده ترڅو په دې توګه خپل ارتجاعی، ناتارکونکی او کرغیړن واقعیت و پوښي. د مرخیړي په خیر د سلګونو انجیوګانو په اصطلاح «د ښځو حقونو پلویانو» سر راپورته کول او په همدغه نوم د میلیونونو ډالرو فنډ اخیستل، دا ټول د امریکا او لویدیځ هڅې دي چې زمونږ په هیواد کی د جنایتکارانه جګړې ریښتینی ماهیت وپوښي او داسې ښکاره کړی چې افغانستان ته د لوټ لپاره نه بلکه د ښځو د ژوند ښه‌والي لپاره یی دلته لښکرلیږدولی دی. یوازی یو موټی نندارېزې او د پردیو او د جنایتکاره جګړه‌مارانو چوپړانې لکه ناهید فرید، شکریه بارکزی، فوزیه کوفی، آمنه بلخی، قدریه یزدان‌پرست، فاطمه ګیلانی،

آمنه افضلی، سیما سمر، آزیتا رفعت، شینکی کروخیل او... مقام او ډالرو او نوم او شهرت ته ورسیدلی خو د افغانستان ډیری ښځې د وینهځښونکو بنسټپالانو او طالبانو او داعشیانو تر واکمنۍ لاندې په دغه ویجاړ شوی او ویرجن هیواد کی ځپل شوی، او له درده ډکه کریغې یی ددې هیواد له هر ګوټ څخه راپورته دي. نور آن د بشر د حقونو نړیوال سازمانونه هم نشی منکریدلی چی افغانې ښځې د طالبانو له تورې دورې څخه بدتره د زور او زیاتي تر بار لاندی له دردهډکو حالاتو سره مخ دي.

اشرف غنی د ټاکنو د کمپاین پر مهال په غولونکو شعارونو کی ویلی وو «هغه دولت چی ونشی کولای په بیلابیلو سیمو کی ښځې خوندي کړي حق نلری ځانته دولت ووای»، خو د فرخندې، تبسم، رخشانې، جمیلې او د زرګونو نورو نوم ورکو او کړیدلو ښځو پر وړاندې بیرونکی برمانټه د هغه د فاسدې او له منلډو ډکې حکومتدارۍ په وخت کی ترسره شوه خو چا پری غوږ هم ونه ګراوه. له یو لاسپوځي او بویناک رژیم څخه چی د انسانیت او ښځو ضد ځناورو دښمنانو څخه رامنځته شوی وی، هغه دولت چی راکټیار، دغه پر ښځو تیزابشیندونکی او د خیانت او ویجاړۍ او هیوادپلورنې جراثیم ته یی د ناوی په څیر ښهراغلاست وویلو او ځناورو طالبانو ته «ورونه» وای، باید د ښځو د ټپونو درملنې هیڅ تمه ونلرو.

د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د هغو لاملونو پایله ده چی که چیری له ریښې را ونه ویستل شی، نشو کولای په دغه لاره کی وړوکی موثر قدم هم کیږدو. د نورو هیوادونو تجربه دا په ډاګه کوی چی د پوهې لاستهراوړل، پرلهپسې مبارزه او په سیاسی او اقتصادي برخو کی ګډون هغه اصلي لارچاری دي چی ښځې کولای شی خپل ستر مقام ته ورسیږي او له سړو سره اوږه په اوږه د ټولنې په خلاصون او پرمختګ کی وړنده ونډه واخلی.

کړیدیلو خویندو او میندو،

زمونږ د هیواد په رنځیدلی تن کی په تیرو څلورو لسیزو کی د بنسټپالۍ ویروس چی له ښځو سره ضدیت د هغوی څرګنده نښه ده، ځغلیدلی دی او د فیوډالۍ او سړيواکۍ فرهنګ د ټولنې په هر اړخ کی ځای نیولی دی. زمونږ ډیر پرمختللی سړی هم د ښځو پر وړاندی د تبعیض نظر لری او هغوی ته دومه درجه موجودات او «عاجره» وای. په داسی حالت کی، دا د پرمختللو او بنسټپالۍ ضد ځواکونو دنده ده چی د ښځو په یو مخکښ او سرتاسري غورځنګ سره په عمل کی کار وکړي. باید دا روښانه حقیقت په زغرده ومنو

چې حق نه په سوال او د بهرني قوت په مټ بلکه د ارتجاعی او ښځو ضد عناصرو پر وړاندی په مبارزه او سربښندنې لاس ته راځي. د میرابال خویندې، د آیسلند د ښځو ودریدنه او په ځانګړي توګه د کوباني د ښځو اتلولۍ جګړه هغه ځلیدونکی بیلګې دي چې باید هغه ځان ته سرلیک وټاکو.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» په دې باور دی چې د ښځو له ګډون پرته هیڅ دیموکراسۍ غوښتونکی او عدالتغوښتونکی حرکت ریښتې نه نیسی. هغه هیواد چې نیمایی وګړي یی د ناپوهۍ او شدلتیا په درندو زنځیرونو کی راښکیل وی، هیڅکله نشی کولای ښیرازۍ ته ورسیږي. د هیواد د خپلواکۍ لاسته روړلو لپاره او د آزادۍ او نورو سترو انساني ارزښتونو نیالګي کښینولو لپاره، باید د سړو ترخنګ د ښځو ویده ځواک په بیخایستونکی سیلاب بدل کړو. یوازې دغسی غولغوله کولای شی چې د ښځو پر وړاندی تاوتریخوالی ته پای ورکړي.

د افغانستان همبستګۍ ګوند
د ۲۰۱۷ کال د نوامبر ۲۵مه (۱۳۹۶ کال د لیندۍ ۴مه) - کابل




Struggle Against
HAMBASTAGI.ORG


زنجیرهای اسارت را
زنان خود
فقط با مبارزه
و ایستادگی شان
می‌توانند
درهم شکنند!
hambastagi.org | حزب همبستگی افغانستان
مبارزه علیه اشغال و بنیادگرایی
گام اول برای رهایی
زن افغان است!
HAMBASTAGI.ORG


زباله‌دان
تاریخ
HAMBASTAGI.ORG

پښتو ۱ امه ګڼه، منی ۱۳۹۶



د تاریخ له پاڼو څخه

# شهید عبدالخالق
# زموږ د هیواد رښتیني اتل دی



عبدالخالق د مولاداد هزاره زوی، زموږ د هیواد رښتیني اتل دی چې د نن څخه ۷۹ کاله وړاندې یې د غدار نادر شاه په توره سینه ګولۍ ښخه کړه، هغه خپل ژوند قربانی کړ خو خلک یې د هیواد د یو تن کرغیړن پادشاه له ناتاریو څخه وژغوره.

هغه په ۱۲۹۵ (۱۹۱۶) کال کې په یوه روڼاندی، بیوزله کورنۍ کې زیږیدلی. د خالق پلار، یو لوستی او خپلواکی‌غوښتونکې کس وو او په انګلسي، جرمني او روسي ژبو باندې یې په نسبي ډول لاسبرې درلوده ځکه چې د غلام‌نبی خان چرخی سره یې یوځای اروپا ته سفرونه درلودل. دغه سفرونو مولاداد ته موکه برابره کړه تر څو خپله مفکوره او هیلې لاپسی بډایا کړی. هغه یو جذباتي او سیاسي شخصیت و او د پرمختللو او ډموکراتیکو غورځنګونو سره یې ځانګړې لیوالتیا درلوده. له همدې امله یې د عبدالخالق په وده او لارښونه که ډیري هڅي کړی دی.

د خالق کورنۍ له اماني غورځنګ سره خورا لیوالتیا درلوده ځکه چې امان‌الله خان، د افغانستان هیوادپاله پادشاه د یو فرمان په لړ کې زموږ د ولس له اوږو څخه د کنیزی او مریتوب پیټی لری کړ دغه چارې چې د زیارکښو طبقاتو په منځ کې د هغه د نامتو کیدلو لامل شو. خالق چې د کړیدلی هزاره له ملیت څخه وه، په خپل ټول وجود سره یې د غریبۍ او

ناتـارۍ تریـخ خوند تجربه کـړی وه او د خپـل ولس د بدمرغیـو لاملینو پر وړاندې یې په زړه کې ژوره کرکه درلودله.

هغه د خپل تره سره د غلام جیلاني خان چرخي په کور کې خدمت کاوه او د هغه اړیکه له دغې مبارزې کورنۍ سـره هغه ته د دې موکه ورکړه چې د مشروطه غوږځنګ له څیرو سره بلد شي او د زورواکۍ په وړاندې د یو ټولګه زړورو مبارزینو سـره په یو پټ سـازمان کې یوځاي شی. هغه چې د نجات په ښـوونځې کې زده‌کړې کولې، هغه د خپلو عزتمنو او پرمختللو ښـوونکو لکه محمد عظیم خان او د ښـوونځې مرسـتیال محمد ایوب خان څخه سیاسي پوهاوي تر لاسه کاوه.



د شـهید عبدالخالق وروستې انځور (د کیڼ لور څخه لومړی کس) د خپلو نیول شو ملګرو سره

نادرشـاه یـو بې‌رحمـه او سـخت‌زړی انسـان و چـې د ځواک د ترلاسـه کولو سره سم د امیـر عبدالرحمـن خونـړۍ او تیـارې لارې پـه لـور ګام کیښـوده او ډیری سرغړونکې او مشروطه‌غوښـتونکې روڼ‌انـدی یې له منځه یوړل. امان‌الله خان تـه ژمنې او د هیواد وتلی څېرې یی په ځناوریزه توګه د سـپېتته، تاوده غوړي، واسکټ پرې کول، په مرمیو ویشـتل او نورو نومونو ربړول او په دار یی زړول.

دغـه ټګمار پادشـاه، نامتو هیوادپـال غلام‌نبی خان چرخـی یې د خپلې کورنـۍ اتلـس تنو غړو سـره یوځـاي د غلام‌جیلاني خان چرخي په شـمول ووژل. عبدالخالق چې د چرخي کورنۍ سـره یی ځانګړې مینه درلودله، دې ټول‌وژنـې، د نادرشـاهی خونړي رژیـم پر وړاندې لا هم د هغـه په زړه کې د کرکې اور بل کړ.

عبدالخالق او د هغه ملګرو په داسې شرایطو کې مبارزه کوله چې نادرشاهی فشارنو او اندوخر د مبارزې لپاره ټولې لاری تړلي وی. د پوه او مبارزو عناصرو لپاره ډګر ورځ تر بلې تنګ او خونړۍ کیده او ناتاری او زبېښـاک هغه حد ته رسیدلې وه چې هغه او د هغه ملګري یې ناتارۍ زنځیرونو ماتولو ته هڅول.


عبدالخالق (کیڼ لور ته)
او د هغه سنګرول ملګرې محمود

په داسې حال کې چې عبدالخالق د ۱۸ کلونو څخه لږ عمر درلود، د خپل ګران ځان څخه په تیریدلو سره یې پریکړه وکړه په هر بیه چې کیږی، خاین نادر شاه به له منځه وړی. په پیل کې هغه هڅه وکړه چې د هماغه کال د وږی میاشت په جشن کې خپل تکل پلی کړی، خو موکه ورته برابره نه شوه. تر دې چې ۱۳۱۲ کال د لړم په ۱۶ نیټه (۱۹۳۳ کال د نوامبر په ۸)، د دلګشا مانۍ په چمن کې هغه ځاي چې یو کال دمخه غلام نبی خان چرخی د قنداغ او ټوپک شپیلۍ لاندې په ځناوریزه توګه وژل شوي وه، د معارف زده‌کونکو لپاره د ډالۍ ویشلو محفل جوړ شو. کرغیړن پادشاه د خپل ټول غرور سره په دې اند و چې د مبارزانو په وژلو او ترور سره د هغه په وړاندې کوم بل مبارز پاتې نه دې، د زده‌کونکو د قطارونو په وړاندې یې قدمونه اخیستل، تر دې چې د عبدالخالق خوا ته راورسید، په ورته وخت کې، هغه د خپل ملګری محمود خان له اوږه څخه چې لومړی قطارکې ولاړ و، په خپلې تومانچې سره د بریښنا په څیر درې ډزې وکړې کوم چې د نادر خان په زړه او دماغو باندې ولګیدلې او د ناتارۍ او جنایتونو دا نښه یې پر ځمکه رانسکوره کړه. ټول هر لور ته په تیښته وو، خلورمه ګولی د تومانچې په شپیلۍ کې ونښته خو هغه په خپل ټول زور سره په خپلې تومانچې سره د پادشاه په نیم‌ژوندي ځان باندې ګوزارونه کول او پرته له دې چې د تیښتې لپاره هڅه وکړی، په سړې سینې سره په خپل ځاي ودرید او د خاین پادشاه د ورستیو سلګیو شیبو ننداره یې وکړه.



د نجات په ښوونځي کې شهید عبدالخالق
د خپلو یو شمیر ټولګیوالو سره

مخکې له دې چې نادر خان د تاریخ ډیران ته واستول شي،

يوازې شپږ مياشتې وړاندې يو بل له ځانه تير ځوان چې سيد کمال خان نوميده په جرمني کې محصل و او د امان‌الله خان ولسي دولت له راپرځيدلو او د انګريزانو لاسوهنو څخه ځوريده، لاس په ماشه شو او د نادر مشر ورور سردار عزيز (د داوود خان پلار) چې په برلين کې د افغانستان وزير و وواژه. تر هغه وروسته يو زړور ځوان د محمد عظيم منشي‌زاده په نامه چې په اماني ليسه کې ښوونکې و، په کابل کې د بريتانيا د وزير وژلو په تکل د انګليس سفارت ته ننوت خو څرنګه چې وزير ته يې لاس و نه رسيد د سفارت درې کارکونکي يې ووژل.

مير غلام محمد غبار په خپل ارزښتمند اثر کې «افغانستان د تاريخ په اوږدو کې» په دغه اړوند ليکي:

«دولت محمد عظيم خان په دار وځړاوه او د روڼاندو د روحيې ماتيدو په خاطر يې، خواجه هدايت‌الله خان چې بندي وو هم په دار وځړاوه تر څو د انګليس سفارت بشپړ رضايت تر لاسه کړي. همدارنګه په کابل کې پوځي حکومت خپل ځناورتوب او ترور لاپسې ډير کړ. دغه ټولي خونړۍ شيبې د افغاني هيوادپالو د سترګو په وړاندې خپرې وې. له هغې ډلې څخه يو ځوان راپاڅيده او داسي يې وويل: "شهيد سيد کمال خان او محمد عظيم خان د مار لکۍ پرې کړه، اوس زموږ وار دی خپله مار ووژنو". دغه وينا د عبدالخالق وه. او همدا وه چې دوه مياشتې وروسته د دولت تاج او تخت د روڼاندو د ځواکمن ګوزارونو لاندې راغی او دغه زلنده او ويجاړونکې دستګاه يې په لړزه راوستله.»


نادرخان د جلاد طره باز خان په غيږه کې، له هغې څخه څو شيبې وروسته چې د عبدالخالق مردکيو د هغه کرغيړن ژوند ته د پای ټکې کيښوده.

عبدالخالق د نادر شاه په وژلو سره، په حقيقت کې، د سلګونو سياسي زندانيانو ژوند وژغوره، غلام محمد غبار ليکي که چيرې عبدالخالق نادر خان

ویشتلی نه وی، دا ممکنه وه چې هغه پاتې ټول روڼاندي چې په سرای موتی او نورو بندخونو کې بندیان وو، وژلي وي.

عبدالخالق نه د شخصي دښمنۍ له مخې او نه د ځوانۍ احساساتو له مخې بلکه د واکمن رژیم اصل څخه په ژور پوهاوي سره او د هغې د ټولو پایلو په منلو سره، چې په ښه توګه یې هغه محاسبه کړې وی، په ټولې میړانی سره یې د زرګونو ملي او نجیبو انسانانو وژونکی په انقلابی دار وځړاوه.

د نادر خان د واکمنۍ په راپرځولو سره، د هغه ۱۹ کلن ځوي ظاهرشاه پر شاهی تخت کیناسته مګر هاشم خان، د هغه خونړي تره ټولې چارې پر مخ وړلې او د هاشم خانی تورې دورې بنسټ یې کیښوده چې عبدالخالق او د هغه ملګري او خپلوان د دغې دورې لومړنی قربانیان وو.

د ۱۳۱۲ کال د لیندۍ میاشتې په ۲۶ نیټه (د ۱۹۳۳ کال د دسامبر په ۱۸) کابل یو ځل بیا د وینو په حمام بدل شو او د دهمزنګ زندان چې د سترو اتلانوو په وینو د ناتارې او ناپوهې پر وړاندې غبرګون ښودلی وو، دا ځلې د بې‌شمیره بې‌ګناه خلکو په وینو ومینځل شو. عبدالخالق د خپل ټولګیوال محمود خان، خپل پلار مولاداد، خپل ماما قربانعلی، غلام ربانی، د چرخی کورنۍ ځوانان مصطفی او لطیف، د محمود خان تره علی اکبر غندمشر، د انیس مطبعې کارګر محمود، زده‌کونکي هر یو تن میر مسجدی، محمد زمان، سید عزیز، محمد اسحق او میرزا محمد، د سپورټ ښوونکې غلام رسول، د امانی ښوونځې مرستیال محمد ایوب، ښوونکې محمد عظیم، د خالق د کورنې ۲۱ تنه غړی او خپلوان د خپلو دوه تنو وړو تره ځامنو په ګډون چې عبدالله او عبدالرحمن نومیری سره یوځاي وروسته له نه ستړی‌کیدونکو ربړونو څخه په دار وځړول شول. آن د هغه نهه کلنه خور حفیظه هم په شاهی توروخونو کې له منځه لاړه.

د شاهی ناتارې جلادان په ځناوریزه توګه د عبدالخالق په بدن ولګیدل او د دغه زړور ځوان ټول وجود یې داړلی وو. د هغه سترګې یې له کاسې څخه بهر وویستلی، د لاس هغه ګوته چې ماشه یې پرې ټینګه کړې وه غوڅه کړه او د هغه د بدن غړي یې ټوټې ټوټې کړل، خو عبدالخالق او د هغه ملګرو تر ورستیو شیبو د تسلیمې او زارې پرځای یې په میړانې سره ودریدنې ته غوروالې ورکړ. خو کرغیړن دولت، د عبدالخالق اقرارلیک تر نامه لاندې یو جعلی سند په دولتې خپرندوي «اصلاح» کې خپور کړ چې د ښکرورو درواغو او تورونو څخه ډک وه.

غبار د «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې» په دوهم ټوک کې، د دغه زړور ځوان په میړانې سره د ودریدنې لړی په دغه ډول رانقلوي:

«عبدالخالق یې تر هغې وربرو چې ورنونه یې خوړین شول او پخپله د حرکت کولو څخه ولویده، او په همدغه ترتیب سره هغه د خپل ژوند تر پایه خپل هیڅ ملگرې په گوته نه کړ او ویل یې چې ما یوازې د نادرشاه د وژلو تکل کړی و او هغه مې مړ کړ. څه وخت چې یی د هغه ملگري د ربړونی لاندې ونیول، بیا هم د هغوي څخه ځینو ځینو د هغه له پیژندلو څخه ډډه وکړه. یو تن چې محمد اسحق خان نومیده وویل زه د اصلي نقشی څخه خبر یم او که چیری ما د عبدالخالق سره مخامخ کړی ټوله نقشه به په تفصیل سره ووایم.

شاه محمود خان عبدالخالق د کټ خواته راوغوښت او دا چې عبدالخالق راورسید د هغه ټپي ملگری د ټپي عبدالخالق خان په لور په ډیرې ژورې حیرانتیا او اغیز باندی وویل:

"ای ناځوانه ملگریه! ولی دې په ما او خپلو ملگرو باور ونه کړ او خپل هوډ دې پټ کړ؟ که چیرې دې داسې نه وی کړی تر اوسه به له دغه حکومت څخه یو کس هم ژوندی نه وی. خپلې وروستې



جعلی او بی‌شرمه لاسوند چې د «عبدالخالق اقرارلیک» تر سرلیک لاندی د هغه اعدام څخه وروسته د ۱۳۱۲ کال د لیندۍ میاشې په ۲۹ نیټه د «اصلاح» ورځپاڼې په ۱۱۶ گڼه کې د زلنده رژیم له خوا خپور شو.

میر غلام محمد غبار د «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې» په دوهم ټوک کې په دغه اړوند لیکي:

«...د دغه جعلی سند خپرول د افغانستان د واکمنې کورنۍ د سیاسي اخلاقو استازیتوب کوی چې په تاریخ کې ثبت کیږی... آیا انسانی وجدان او فطرت د دې اجازه ورکوي چې یو څوک خپل دښمن په دغه ډول غولونکې او ناځوانه وسلې باندې وټکوی؟ ... د واکمنې کورنۍ دغه دسیسه او چمبازی یوازې محمد عظیم خان او عبدالخالق خان او د هیواد روڼاندو سره خیانت نه وو، بلکه د افغانستان تاریخ او ولس هوښیارتیا او زړورتیا سره خیانت شمیرل کیږی.»

خبرې مې تا ته وکړې خدای پامان."

عبدالخالق خان په ځواب کې وویل: ریښــتیا وای، زما پاملرنه بېځایه وه. له تا څخه بخښنه غواړم.

د میرانې دغې شـیبې پـه لیدلو سـره د څیړونکی پلاوي رنګ والوته، ځکه چې دوي ټول خلک د خپل سـپک نفس په آئینه کې لیدل، او زړورتیا او میړانه یې نه پیژندله.»


The Indian Express
FREE PRESS OF INDIA (Bombay) LTD.
THE KING OF AFGHANISTAN ASSASSINATED
Rebel's Outrage In Broad Daylight
THE NATION IN MOURNING
Zahir Shah Installed As King
COUNTRY QUIET INTERNALLY
MAHATMA'S CALL TO CASTE HINDUS
"Forget Superiority Complex"
ROYAL RECEPTION AT NAGPUR
Purses And Presents For Harijan Cause
hambastagi.org

د۱۹۳۳ کال پـه نوامبـر کـې د برتانوی هند په «اندیـن اکسـپرس» ورځپاڼې په نهمـه ګڼه کې د نادرشـاه د وژل‌کیدو خبـر. د انګلیس دولت په افغانستان‌کې د خپل مزدور په وژلو سره ولړزید او د امان‌الله خـان او د هغـه د ملګرو څخه یې واک ته د بیرته راستنیدلو څخه ویره درلودله.

پـه خواشـینې سـره چې نن ورځ د ځنـاورو جنایتکارانــو لکه مسـعود، ربانی، مـزاری او نورو څخـه په رسـمی توګـه لمانځنه کیږی، د دوي په تلین او قبرونو کـې میلیونونـه ډالر په لګښـت رسول کیږی سړکونه او تعلیمي موسسـې د دوې پـه کرغیړنـو نومونـو سـره ککړی کـړی دي خـو زمـوږ د خلکـو ربـښتیني اتلانـو څخـه چـې د ځناورتوب او زورزیاتـي په وړانـدې یې پرته لــه ویری څخه خپل ژوند قربانی کړی دی، هیڅ نوم نه اخیستل کیږی.

شـهید عبدالخالق، که څه هم زموږ د مظلـوم هزاره ملیت له منځ څخه راپاڅیدلی و، خو د هغه سیاسـي پوهاوي او وجدان څخه برښـمند وه چې د هر ډول قومی، ملیتی او ژبنې توپیر څخه په لریوالې سـره زموږ د هیواد ټولو ملیتونو بدمرغه خلکو د سـوکالې لپاره یی خپلـه ځوانې قربانې کړه. مګر نن ورځ یو شـمیر شوونیسـت هـزاره‌ګان چې د توکم‌پالنې ویـرس د هغوي ټول بـدن نیولی دی د کرغیړنـو او خونړیو څیرو تر څنګ لکـه عبدالعلی مزاری، لیونې شـفیع او د ایران وینه‌څښـونکې آخندی رژیم له نورو چوپړانو سـره د عبدالخالق انځور په زړولو سـره، زموږ د هیواد ریښـتني اتل یاد او خاطراتو ته سپکاوي کوي او هڅه کوي تر څو ستر عبدالخالق د ارتجاع چوپړګرانو تر کچې راټیټ کړی.

شهید عبدالخالق، که څه هم شهید شو، خو د خپلې پاکې وینې په بلهارنې

سره یې زموږ په هیواد کې د عدالت‌غوښتنې او خپلواکۍ نیالګي پیاوړي کړل او په خپل انقلابی او زړور حرکت سره یې خپل نوم د هیواد په تاریخ کې زموږ د خلکو ربښتیني اتل په توګه ثبت کړ.




د اتل عبدالخالق د خیرې پنسلی رسم چې «د افغانستان د همبستګې ګوند» له خوا جوړ شوي دي.



سیلی غفار

# د کابل پوهنتون ټولنیزو علومو فارغینو ته د سیلۍ غفار وینا



د ۱۳۹۶ کال د وږي میاشتې په ۲۲ نیټه (۲۰۱۷ کال د سپتامبر په ۱۳) «د افغانستان همبستګۍ ګوند» ویانده سیلۍ غفار، د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو محصلانو د یو ډلې په بلنې سره، د دغه پوهنځي په فراغت غونډه کې ګډون وکړ. د آغلې غفار تر څنګ، د دې غونډې بل میلمه ډاکټر رمضان بشردوست وه چې دواړو د اوسنی وضعیت په اړه کې، د ځوانانو ونډه او ټول سیاسي او اجتماعي مسایلو په اړوند د محافظه‌کارۍ او بیمانتوب په اړوند زغرده خبرې درلودې.

آغلې سیلی غفار د خپلې وینا په یوې برخې کې وویل:

« زه هیله لرم تاسې چې د دې دورې په بهیر کې څه زده کړي دي وکولی شي زموږ خلکو ته چې پرته له شک څخه د نړۍ ډېر بې‌وزله او اړ اوسیدونکي دي، خدمت وکړی. ستاسی مسلک ټولنیز علوم دی، هغه علوم چې موږ د هغې په وسیله باندې وکولی شو د خپل ملت بې‌پایه دردونو په اړه پوه شو او د هغې څخه د خلاصون لپاره د یوې لارې موندلو لپاره راولاړ شو.

زه ډاډمنه یم چې تاسو د تحصیل په لړکې د تاریخ د تیرو پیښو او د سترو انقلابونو په اړوند چې د نړۍ مختلف هیوادونه یې ولړزول او بدلونونه په کې رامنځته شو، بشپړ پوهاوي تر لاسه

کړې دی. دغه پوهاوي موږ ته یو ټکي را په ګوته کوی چې هیڅ یو ولس د نیواکګرو، بهرنیو ځواکونو او د کورنیو هیوادپلورونکو او جنایتکارانو تر واکمنۍ لاندی سوکالۍ، پرختیا او پرمختګ ته نه دې رسیدلې. په هره ټولنه کی ګڼ شمیر روڼاندی او لوستی خلک شته چې د خلکو په لومړي کتارکی د انقلاب او ټولنیز بدلون څرخ پر مخ وړی او خپلو خلکو ته خپلواکي او ډموکراسي ور په برخه کوی. پر دغه بنسټ په افغانستان کې، دا دنده ستاسو پر اوږه ده تر څو خلک پوه کړی او د هغوي آزادیغوښتونکی غورځنګ رهبري کړئ.




مګر موږ او تاسی په هیڅ ډول تر هغه نشو کولی چې د خپلو خلکو ریښتنې استازي شو تر څو چې د هر ډول قومي، ژبني، مذهبي او سمتي مسایلو څخه لیرې د ټولو خاینو واکمنانو او د دوی د بهرنیو ملاتړو په وړاندی مبارزې ته راولاړ نشو.

زموږ هیواد د بل هر وخت پرتله نن د بهرنیانو د جګړو او نیواک په ګرداو کې ډوب دی. د امریکا نیواکګر دولت د خپلې نوی تګلاره په اعلان سره پریکړه کړی تر څو افغانستان ته ډیر سرتیرې راولیږی. د ډیرو سرتیرو رالیږل د جګړو، ویجاړتوب او بې‌ثباتی د ډیریدلو په معنا ده. دا ټولو ته څرګنده ده چې په ټوله نړۍ او افغانستان کې طالب، داعش او نوری ځناوری بنسټپالی ډلې امریکا خپله زیږولی دی. په افغانستان کې د امریکا جګړه د ترهګری په وړاندی نه ده بلکه د خپلو اقتصادي، سیاسي او استراتژیکو ګټو لاس ته راوړلو لپاره ده. د دغه ټولو ناخوالو څخه د خلاصون یوازینې لاره مبارزه ده، نه دا چې د امریکا تګلارې په بدلون او د نویو مهرو لاس په کاریدلو سره خپل زړه خوښ کړو. یوازې باید خلک سره یوځاي او په اتفاق کړو او د نیواکګرو او لاسپوخی دولت او د ع او غ د فساد شړی راټوله کړو چې یوازې

پښتو ۱ امه ګڼه، مئی ۱۳۹۶

هغه وخت کولی شو پر طالبی او داعشی او نورو ځناورو او پردیو ډلو باندی په انسانیت سره بریالی شو.»




داکتر رمضان بشر دوست چې د سپیڅلې سیاسي شخصیت په توګه یې تل واقعیتونه بربنډ کړی د ع او غ د حکومت جدي نیوکه کونکو څخه شمیرل کیږی هم د خپلې وینا په لړ کې په هیواد کې د اوسنیو ناخوالو او د واکمنانو خاینانه جوړجاړی ته وانګارل. نوموړی د دولت د مشرانو چارې د خیانت څخه ډکې وبللې او د حکومتی لوړپوړو چارواکو له درغلیو په اړه یی داسی وویل چې «د ناسمو او ناپوهه کسانو له خوا اداره کیږی چې د پیسو او واسطو په زور باندی واکمنان دی». هغه د وزارتونو او وزیرانو له بې‌کفایتۍ، د زورواکو له خوا د کانونو لوټ، د هلمند، آمو... له ډیرو اوبو څخه چې د کاونډیو هیوادنو له خوا څخه په وړیا توګه په مصرف رسول کیږی څخه یادونه وکړه.

د غونډی په پایه کې رمضان بشردوست، سیلی غفار او څو تنو نورو ښوونکو د دغه دوری فارغانو ته د ستاینلیکونو په ورکولو سره، د دوی او هیواد لپاره یی د ښه راتلونکې هیله وکړه.

په دغه پروګرام کی د سیلۍ غفار او رمضان بشردوست له کډون او ویناو څخه د محصلانو تود هرکلی دا په ډاګه کوی چی د افغانستان ځوان او تحصیل کړی نسل له معاملې او درغلۍ څخه پاک سیاست سره مینه لری او په ښه توګه جنایتکاران او خپل دښمنان پیژني. لکه څرنګه چې یوې نجلۍ د آغلې سیلی له لاس څخه د ستاینلیک په اخیستلو سره وویل: «ستاسې له خوا څخه د ستاینلیک په اخیستلو سره زه غواړم چې ستاسې په ګام باندی ګام کیږدم او یوه سیاسي فعاله اوسم او ستاسې لاره تعقیب کړم.»



لیکونکی: نیک‌محمد پایدو

# د بدخشان د ښوونځیو دردناکه انځورونه




د تجربه لرونکو ښوونکو سربیره د میز او څوکۍ، کتابتون، لابراتوار، د کمپیوټر ټولګي، شنه سیمه او ورزشي ډګرونو، تشنابونو او څښاک اوبه او... اسنتیاو څخه پرته د زده‌کړې روغ او آرامه چاپیریال ممکنه نه دی. دا د هر ماشوم د معیاري زده کړو او بشري حقونو مهم عناصر دي چې له بده مرغه، په افغانستان کې د ډیرو ښوونځیو زده کونکي، په ځانګړې توګه د بدخشان د ښوونځیو زده کونکي، له دې څخه بې برخې دي. اوس مهال، په دې ولایت کې نږدې ۲۵۰ ښوونځي ودانۍ نه لري او د هغې زده کوونکې په آزاده فضا کې زده‌کړې ترسره کوي.

هغه ښوونځي چې تر اوسه جوړ شوي دي یوازې لږ شمیر زده‌کونکې یې د لمر، باران او واورې له ستونزو څخه د چت لاندې کړې دی مګر اوس هم د سمې روزنې معیارونه نه لري. تر اوسه هم، ډیری ټولګي د دیوالونو او ونو سیوري لاندې دي؛ هغه کتابتونونه او لابراتوارخونې چې د ولایتونو په یو شمیر مرکزونو کې ودانۍ شوي دي ډیری تشریفاتي او نندارېز اړخ لري؛




زده‌کونکو هیڅکله هم پوره میزونه، څوکۍ، کتابونه او نور توکي په لاس کې نه درلودل؛ که چیرې په ځینو لرو سیمو کې انجونې ښوونځی ته د تللو همت ولري ډېرې وختونه په دې لامل چې ښوونځي شاوخوا دیوالونه نه لري ځورول کیږي؛ په اوسنې پرمختللې نړۍ کې چې ټول شیان د الکترونکی کیدلو او کمپیوټري کیدلو په حال کې دي، زموږ زده‌کونکو تر اوسه پورې په خپلو سترګو کمپیوټر نه دې لیدلې، او...




پخوا به خلکو پخپله د ښوونځیو په آبادولو کې رغند ونډه لرله او ښوونکو ته د پیسو ورکړې او مرستې کولو څخه پرته، د ختو او لرګیو څخه به یې په سیمه‌ایزه توګه خونې جوړولې تر څو د دوی ماشومان د سیوري لاندې زده‌کړې وکړي مګر د انجوګانو او بهرنیو او داخلي موسساتو په ښکیلتیا سره او د دولت ناسم خبرونه او د تدریس د پراختیا او پرمختګ تر نوم لاندې دمیلیونونو ډالرو حیف و میل کیدل له یوې خوا، او له بله پلوه بیوزلي او بیکارۍ، د سیمې اوسیدونکې په ناهلیې او بدمرغۍ کې ژوند کوی.




خلک په ښه توګه پوهیږي تر هغې چې هیواپلورونکی او جنایتکاران په واک کې وي او زموږ د ماشومانو برخلیک په اړه چې هره پریکړه وکړي، هیڅکله هم د ښه‌والی تمه ترې

ونه کړو. کله چې ښوونځي د بنسټپالو په مشرۍ سره د دینې مدرسو تر کچې راټیټ شي، راتلونکي نسلونه به یوازې مزدوران او ناپوهه انسان‌وژونکي، د پرمختګ ضد او د ښځو ضد به وي او بس.



لاندې د بدخشان په مختلفو ولسوالیو کې د ښوونځیو د ماشومانو د دردناک حالت انځورونه درلیږم تر څو د دغه خاین دولت او سیستم کرغیړنی څیري لکه یونس قانوني او فاروق وردک چې د معارف تر نوم لاندې یې میلیونونه ډالر لوټ کړل، لاپسې بربنډې شي. کله چې دغه ښوونځیو او ټولګیو ته پام وکړې، دا جوته کیږي چې حیواناتو لپاره غوجلې جوړې شوي دي نه د ماشومانو لپاره ښوونځي. خو له بلې خوا، د هغو ماشومانو لیدل چې د ډیرو لومړنیو چوپړتیاو په نه شتون کې درس او زده‌کړې ته ادامه ورکوي، انسان ته د هیلې ځواک ورکوي چې یوه ورځ به دا په علم او پوهې باندې سمبال ماشومان، به پرېنږدي چې یو جنایتکار به هم د هغوي او راتلونکو نسلونو برخلیک په خپله ولکه کې ونیسي.



لیکونکی: نیک محمدپایدو

# د یوی ډوډۍ په بدل کې «د غوبګانو» یو ورځینۍ ستونزمن کار




غوبګان (یا ګوروانان) د افغانستان په ډېری ولایاتونو کې پېژندل شوي نوم دي غوبه هغه څوک دي چې باید د ګهیځ په خړه کې د کلي غواګاني او خره په ګډه سره څرځایونو ته بوځي او ماښام بیرته کلې ته را وګرځی چې البته ډېره ټیټ عایده دنده ده. د شمالی او شمال‌ختیځ ولایاتو په هر کلي کې په څرګنده توګه لږ تر لږه یوه یا دوه کورنۍ خپل ژوند په دغه کسب سره تامینوي.

عبدالقادر د بدخشان ارګو ولسوالۍ په قچې سیمه کې د غوبګانو څخه یو تن دي چې پنځه پنځوس کاله عمر لری او د وینا پر بنسټ یی د لس کلنې څخه په دغه دنده بوخت دي. خلک هغه د قادر غوبه په نوم پیژنې او هغه مزد چې د غوبه‌توب له لارې لاس ته راوړي د خپلې لس کسیزې کورنۍ لپاره یوازې د ورځنی ژوند چمتو کولو په موخه په لګښت رسوي. هغه کلي چې عبدالقادر په کې ژوند کوي شاوخوا ۱۵۰ کورنۍ لری چې هر یوه یې هرومرو شیدی ورکونکې غوا لری او د دې لپاره چې هره ورځ هغوی څرځای ته واستوی هره کورنۍ د یوی یا دوه ډوډیو او یا ۱۵۰ منه غنمو-هر کورنې په کال کې یو من غنمو- په بدل کې ګمارلې دي. عبدالقادر او ځوي یی د هرې ورځ په پای کې کله چې رمه کلي ته راوړی د خپلې وچې ډوډۍ برخه د هغه کور څخه چې نوبت یی دي ترلاسه کوی او هغه په سړو یا تودو اوبو سره لمدوی او د خپلې کورنۍ له ټولو غړو سره یی په ګډه خوري.


عبدالقادر

د عبدالقـادر ځـوي چې د خپـل پلار سـره د رمې له يوې څنډې څخه سـاتنه کـوي. کله کله غوبـګان د کلې څخه د رمې د څرولو تړون لاس ته راوړي خو لږ عمـر هلکان هغې ته ګوماری او خپلـه پـه بـل کسـب باندې بوخت کيږي.

د غوبګانو شـمير د کليو په شـمير پوری اړه لری. هر کلې يوه رمه لری او د هغوي څرولو او سـاتنې لپاره پـه ورځ کې دوه يا دری غوبګان ګوماری. په دې ډول کلـه چيری په هره رمه کې دوه کسـه په نظر کې ونيسو د بدخشـان ۴ زره څخه ډير کلې شاوخوا ۸ زره غوبګان لری. يا په بله وينا په بدخشـان کې اته زره کورنـې د خپـل ژوند لګښـت له دې لارې څخـه لاس ته راوړي.


د عبدالقادر ځوی

د تخـار، کنـدز، بغـلان، بلـخ، فارياب، سـمنګان او ټولو شـمالی ولاياتونو په کليو کې ګڼ شـمير کسـان په غوبه‌توب بوخت دي. که چيری په سـويلې او ختيځو او لويديځو سـيمو کې هم دا ډول کسـب معمول وي په افغانسـتان کې په اټکلې ډول دوه ميليونه کورنې (لږ تر لږ شپږ تنه) غوبه دي.

که څه هم د هغوي د جامو او د کور وضعيت او ورځينې مزد څخه تقريبا د غوبګانو د ژوندانه په اړه په ټولو شـيانو پوهيدلی شـو، خو د هغوي سره په خبـرو او پـه دې پوهيدل چې څه ډول په دغه عايد خپل ژوند پر مخ وړی، د هغوي د ژوند له تيتې کچې، غريبۍ او بې وزلۍ سـربيره د ګڼ شـمير کړاونو او رنځونو نور اړخونه باندې هم پوهيدلی شو.

غوبګان لږ خبرې کونکی، ساده او پاک نيته کسان دی چې د خپلې کورنۍ ټولو غړو تر څنګ يې خپل ټول عمر په بدمرغيو او ناکامو هيلو سـره پاي ته رسولی دي.

د غوبګانو او نورو مظلومانو بدمرغۍ د افغانسـتان په سياسی، اقتصادی،

کلتـوری او ټولنیزو شـرایطو پوری تړاو لری. که څـه هم یی د تاریخ په هیڅ لړی کې بنـه وضعیت نه دي درلودلې خو اوسـنې دولت او د امریکا چوپړانو




او جهـادی تنظیمونـه، د غوبګانـو د بدمرغېـو او د افغانستان رنځیدلو خلکو د څو چنـده کړاونو اصلي لاملیـن دي. او لـه هغـه ځایه چې د دولت مشـران او پرمخ وړونکی او کړنلاره جوړونکې په جهادی تنظیمونو پوری تړاو لری او لویدیځپاله تکنوکراتانو دي نو د هغوي کړنلارې او اقتصادی پلانونه د ټولنې بې‌برخو خلک ته هیڅ ګټه نه رسـوی او همدا راز دغه ټولګه خلک او د ټولنې قشـرونه کال په کال د بې وزلۍ او بدمرغۍ په لور رابنکل کیږی.

ځیل‌شـوی خلـک د اسـکیرنې او بې وزلـې څخه د خپل ځـان خلاصون لپـاره پرته لـه مبارزې څخه بله لاره نه لري. که چیرې دغه قشـرونه په ګډه سـره د سیاسی، اقتصادی، کلتورې او ټولنیزو شرایطو په وړاندی مبارزې ته پاڅیـږی او د هغوی په بدلول سـره د خپل بدمرغـه ژوند وضعیت ته بدلون ورکړی نو بل هیڅ ژغورونکې هم شتون نه لری.



**محقق د ایران کرغیړن رژیم باړه اخیستونکی**

کارتونیست: عتیق شاهد



لیکونکی: احمر

# د هیروینو په قاچاق او تولید کې د ګلبدین اسلامی حزب لاس لرل



نـن د امریـکا نیواکګـر دولـت او شـریکان یې په دې هڅه کې دی تر څو د اپینو او هیرویین کښـت، تولیـد او قاچـاق یوازې د طالبانـو دورې پر بدمرغه کلونو او په اوسنې وضعیت کې د دغـه ځناورو ډلو تر لاس‌لاندې سـیمو پورې ځانګړې کړی، خو آیا همداسـې ده او د سی آی ای په لاس نوري روزل‌شـوي ډلې په دغه بشـری‌ضد پدیده کې ونډه نه لری؟ په دغه برخه کې ګڼ شمیر بربنډونې تر سره شوې چې په ټوله نړۍ کې د مخدره توکـو په پراخه کچه قاچاق کې د سـی‌آی‌ای او ام‌آی۶ ونـډه په ډاګه کوې. د سړې جګړې په بهیر کې چې د هغوې د اړینو مرکزونو څخه یو یې افغانستان وه، دغه دوه اسـتخباراتې سـازمانونه او په ځانګړې توګه سی‌آی‌ای د مخدره توکو له لارې د خپلو روسی سیالانو په وړاندې په ډیره کچه ګټه پورته کړه او له همدې کبله، په اوسنې وخت کې په افغانستان کې د امریکایې ځواکونو تر سیورې لاندې د نړۍ ۹۰ سلنه څخه ډیر مخدره توکې تولیدیږي.

په افغانستان او پاکستان کې د سړې جګړې په بهیر کې د مخدره توکو په

> **«ګلبدین حکمتیار - د سی‌آی‌ای لپاره دغه په زړه پوري افغاني سرمایه ـ شپږ لابراتوارونه یی دکنټرول لاندې درلودل چې د هلمند درې د اپینو زیاتره حاصلات یی په هیروینو بدلول.»**
>
> پروفیسر الفرید مک‌کوی

سوداګرۍ کې یو د اصلي لوبغاړو څخه، د ګلبدین حزب اسلامی وه چې د سی‌آی‌ای د یو میلیارډ ډالرو د ترلاسه کولو سربیره (اووه جهادی تنظیم ته د نوموړی سازمان د مرستو ٪۵۰) د آی‌اس‌آی له خوا، پر دی چې د امریکا دولت د دغې موضوع پر اوړند پوهیږی، دغه د انسان‌وژلو کاروبار د هغه د ګټې بله برخه جوړوله. ۱۳۷۰ کال د غویی په ۲۳ نیټه ـ ۱۹۹۰ کال د می په ۱۳ نیټه د لوموړی ځل لپاره، ستیف کول («د ارواحو جګړه» کتاب لیکونکې) او جیمز روپرت «واشنګتن پسټ» ورځپاڼې ته په یو راپور کې ولیکل:

«د افغانستان او امریکا رسمی چارواکو د وینا پر بنسټ، د څو کلونو لپاره د امریکا دولت د ځینو افغان وسله والو او د پاکستان پوځي صاحب‌منصبانو له خوا د هیروینو قاچاق راپورونه تر لاسه کړه. هماغه کسان چې له دغه دولت سره په افغانستان کې د شوروی د نفوذ په وړاندی جګړه کې مرسته‌کونکې وه، خو د دغې موضوع په اړوند یی د ځیړنو څخه سترګې پټې کړی دی.

افغانان، د مجاهدینو په ګډون، د امریکا رسمی چارواکو په چوپړ کې اصلي لاسوندونه کیښودل چې د ګلبدین حکمتیار تر مشری لاندی د قومندانانو له خوا د هیروینو په قاچاق باندی دلالت کوي، یو تنه له وسله والو څخه چې د پاکستان فوځ سره نږدی اړیکې لری... په پاکستان او واشنګتن کې د سرچینو د څرګندونو پر بنسټ، د پاکستان استخباراتې سازمان چې د "آی‌اس‌آی" په نوم یادیږی د قاچاقو بهیر څخه یی ساتنه کړی او په هغې کې برښمند دي.»

هغه په ادامه کې لیکې:

«د نوموړو لاسوندونو پر بنسټ، د حکمتیار قومندانان آی‌اس‌آی ته نږدې، د پاکستان په سویل‌لویدیځ کې لابراتوارونه اداره کوی چې د افغانستان څخه رالیږدول شوي اومه اپین پیری

او وروسته هغه په مورفین او هیرویین باندي بدلوي. سرچینې وایي چې هیرویین د پاکستان هوايي ډگرونو او بندرونو له لارې- زیاتره د کراچي ښار- یا په ایران کې د ځمکنۍ لارو څخه ترکیه، بالکان او اروپايي هیوادونو ته قاچاق کیږي.»



۲۰۱۷ مارچ: د گلبدین حزب اسلامی وسله‌والو کسانو څخه یو تن د کونړ ولایت شیگل ولسوالۍ د لاچی په کلي کې د کوکنارو کروندو څخه ساتنه کوی. (د فرانز مارتي: څخه انځور)

سربیره پر دی، د «نیویارک تایمز» په ورځپانه کې «د مخدره توکو سره د سی‌آی‌ای اړیکو لرغونتوب د هغې پیدایښت وخت پوری تړاو لری» تر سرلیک لاندي په خپاره شوي راپور کې (۱۳۷۲ کال د لیندۍ په ۱۲- د۱۹۹۳ کال د دسامبر په ۳)، د مخدره توکو په قاچاق او تولید کې د سی‌آی‌ای لاس درلودلو تر څنگ په چین، لائوس، مکسیکو، پاناما او څو نورو هیوادونو کې، د سی‌آی‌ای او گلبدین ونډې په اړوند هم ذکر شوي دي:

«...سی‌آی‌ای په بل هیڅ ځای کې د پاکستان په کچه د افغانستان جگړې پر مهال د مخدره توکو په قاچاق کې ښکېل نه وه. افغان وسله‌والو ته د پیسو او وسلو لیږدولو لپاره، نوموړی سازمان د آی‌اس‌آی لاره غوره کړه او آی‌اس‌آی په خپل وار د سی‌آی‌ای مرستو ته د بنسټپاله گلبدین په لور لارښونه ورکړه. هغه د نوموړی سازمان نږدې نیمايي مرستې لاس ته راوړی خو د دی سره سره یی زیاتره قومندانان د هیروینو ستر قاچاقبران وه.»

همدارنگه، ماتیو آکینز- خبریال او لیکوال چې د څو کلونو راهیسې په افغانستان کې ژوند کوي او د افغانستان جگړې په اړوند د خپلو راپورونو له امله پیژندل کیږی، د «نوی ډموکراسۍ» راډیو سره په یوه مرکه کې امی گودمن ته په ځواب کې (۱۳۹۳ کال د لړم په ۸ ــ ۲۰۱۴ د دسامبر په ۲۹) د سی‌آی‌ای او گلبدین مرستي تصدیق کوي:

«امی گودمن: تاسو هم په افغانستان کې د مخدره توکود قاچاقبرانو سره د امریکا او سی‌آی‌ای مرستو تاریخچې په اړوند

لیکلې دی، آیا دا امکان لری چې په اړوند یی خبری وکړی؟
ماتیـو آکینـز: هو، هغه کرغیړن جنګونه چې سـی‌آی‌ای یی په افغانسـتان کې پر مخ وړی، په شـمول د مجاهیدینو د قومندانانو څخه ملاتړ کول چې په ډیرو مواردو کې په مستقیمه توګه د مخدره توکو په قاچاق کې لاس لري. د ګلبدین حکمتیار په شـان کسـان چـې پـه ۱۹۸۰ لسـیزه کې د پاکسـتان په سـرحدی سـیمو کې د هیروینو د لابرواتوارنو د پراختیا مسـوولین وه او د امریکا مالی او نظامی ملاتړ یی تر لاسه کاوه.»

پـه پـای کې ۱۳۹۴ کال د کـب په ۳ـ ۲۰۱۶ کال د فبروری ۲۲، پروفیسـر الفرید مک‌کوی (Alfred McCoy)، د «آسیا په سویل‌ختیځ کې د هیروینو سیاسـت» او «ربړونی مسئله: د سرې جګړې څخه تر د ترهګری په وړاندی جګړې پوری د سـی‌آی‌ای د ځیرنې میتودونه» کتابونو لیکونکې او تاریخ‌پوه، د «دی نیشن» ورځپاڼې په یوه ځپاره شوی مطلب کې ولیکل:

«...پـه ۱۹۸۸ کال کـې، یوازې د خیبر په سـیمه کې په اټکلې ډول د ۱۰۰ څخه تر ۲۰۰ پوری لابراتوارونو شتون درلوده. د هیواد په سـویل کې لبړ بنکته د [پاکستان] بلوچسـتان ایالت په سلطان کوه ولسـوالۍ کی، ګلبدین حکمتیار ــ د سی‌آی‌ای لپاره ددغه په زړه پورې افغانی شـتمنۍـ شـپږ لابراتوارونه یی د کنټرول لاندی درلودل چې د هلمند درې د اپینو زیاتره حاصلات یی په هیروینو بدلول. پاکسـتان فوځ پـورې تړلې "د ملی لوجسـټیک ګرځنده" لارې‌ګانې(National Logistics Cell – NLC) د سـی‌آی‌ای وسـلو څخه ډکو پیټیو سـره له کراچې څخه دغې سرحدی سیمې ته راتللې او هیروینو بار سـره د هیواد بندرونو او هوایي ډګرونو په لـور بیرتـه ګرځیدلې چې له هغـه ځایونو څخه نړیوالـو بازارونو ته صادریدل.»

ګلبدیـن او د هغـه ګوند که هر څومره خپل ځان د امریکا ضد وښـایي او د جهـاد فتـوا د هغوي پـه وړاندی اعلان کړی خو د هـرې ورځې په تیریدلو سره نور هم بربنډیږی چې دغه دواړه په ډیرو کرغیړنو چارو کې د یو بل سره ملګری وه. له دې امله ده چې د خپل خاوند په امر کله کله د امریکا ضد نقاب په خپل مخ راکاږی او کله ناکله د «سولې پروسې» سر هم یوځاي کیږی.

لیکونکی: مریم مروه



# ښوونکي،
# د هیواد بیوزله وګړي




په خواشـینې سـره زموږ د هیـواد د ښـوونکو اقتصـادی وضعیـت د ګرځنده‌پلورونکـو څخـه ډیر بـد دی. د هغـوی ډیـری د ښـارونو پـه خوارمیشتو سـیمو کې په زړو او کرایـی کورونـو کې ژوند کوی او زیاتره وخت د حکومت د درواغو او غولونو اړه نیوکه کوی. د هر نوی ولسمشـر او وزیر په منځته راتګ هغوی ته تشي ژمنې ورکړل شوی خو وروسـته لیدل کیږی چې خاین وزیـران لکه قانونی او فاروق وردک د هغوي په نوم میلیونونه ډالر په جیب وهلی دی او ټولوهیواد خیالی ښوونځیو نیولی دی.

د هغوي یو شمیر وایي چې دری کاله پخوا کله چې موږ په اعتصاب لاس پوری کړ، دولت د هغوي چوپتیا لپاره ډیری غوړي او پستي ژمنې ورکړی خو د دری کالو په تیریدلو سـره یی، لا تر اوسـه هم هیڅ یوه په عمل کې پیاده کړی نه ده.

د حبیبی په لیسه کې د ښوونکو څخه یو تن شمس‌الرحمان، ترخه کیسه

لري. اوس مهال، هغه د خپل ورور سره یوځاي د کابل ښار په کارته غوث‌الدین کې په یو ویجاړ شوي کور کې د بیوزلۍ ژوند په مخ وړي. هغه د ۷ اولادونو پلار او د کور یوائیني ډوډۍ راوړونکې دی، او وایی هغه پیسي چې د معلمی له لارې لاس ته راوړم، آن دا چې د خپلې کورنې لومړنې اړتیاوي پرې برابرولی نه شم.



استاد شمس‌الرحمان

استاد شمس‌الرحمان چې د خپلې کورنې سره یوځاي د تنظیمونو د وینو او خیانت کلونه او د طالبانو بدمرغه دوران یی په کابل کې تیر کړی دی، د هغه وینو بهیدونکو کلونو څخه ډیري په سترګو لیدلی ډارځپلی خاطرې لری. هغه د خپلو خاطراتو څخه یوه له اوښکو ډکو سترګو سره، په داسي حال کې یی هڅه کوله چې خپلې اوښکې په ترخه موسکا سره پټې کړی، بیانوی:

«یوه ورځ زه د خپل خپل ورور سره د ځینو لوازمو لیږدولو لپاره د کور په لوری روانو وو چې د دهافغانانو په سیمه کې د ګلبدین څو توغندي ولږیدل. په هر ځاي کې لوګی خپور شوي وه او هوا تیاره شوی وه. ګنګس وم او په لومړیو کې مې غوږونو کار نه کاو، وروسته لږ په حال شوم او په هر ځاي کې د کوکارو او چیغو آواز اوریدل کیده. زه او زما ورور، وروسته له یوی کړۍ څخه په دی بریالی شو چې یو بل پیدا کړو. دواړه ډیر ویریدلی وو او فکر مو کاو چې یو بل مو د لاسه ورکړی دی تر اوسه می د هغی ورځې ویره په خاطراتو کې پاتي ده.»

هغه د اوسنی مافیایی حکومت څخه خپله کرکه په داسی ډول بیانوی:

«هغه کسان د دولت په لوړو څوکیو کې پراته دی چې په تیرو وختونو کې یی کابل په کنډواله بدل کړ؛ د انجونو پر مخ یی تیزاب شیندل؛ د خلکو د اوسیدنو کورنو یي په خپلو توغندیو ویجاړ کړل. دوی په ظاهر خپل ځان علم‌دوسته او پرمختللی څرګندوي خو په اصل کې هڅه کوی چې خلک ویده وساتئ. دوی د خلکو او په ځانګړی توګه د ښځو د پوهاوي او پرمختګ مخالف دی.»

۴۱ کلنه، نجلا، د اووه کلو څخه را په دی خوا د آصف مایل په عالی لیسه



استاد نجلا

کې ښوونکې ده. نومـوړی د خپلـو دوو ځامنو سره هر یو ۱۷ کلن محمد مامون او ۱۴ کلن محمد مومن، د کمپنی په لاره په یو غریبانه کور کې، ډیر سـخت ژوند لری. دیارلـس کاله پخوا کله چې د کابل ښار د جای ریس په سـیمه کې پـه یو کرایي کور کې ژوند کاوه، وسلوال کسان په نیمه شپه کـې د هغوي کور ته ورننوتل او خاوند یی ورتـه په ډز وویشـت چې تر اوسـه پوری د هغه وژونکي نیول شوی نه دی.

د استاذ نجلا کورنۍ د تنظیمی جګړو په دوران کې د کابل ښار په تلګراف سـیمه کې چې د وحدت او جمعیت اسـلامی ګوندونو تر منځ د جګړی ډګر وو، ژوند کاوه. د وحدت‌یانو د زورونو او ربړولو او د جګړی ډیریدلو له امله، په پای کې د کور پریښـودلو ته اړ شـو او په ننګرهار کې یی پناه واخیسته. استاد نجلا وایی کله چې د تنظیمونو نسـکوریدلو څخه وروسته بیرته خپلو کورونو ته را سـتانه شـول، آن په کور کې یوه سـتنه هم پاتی نه وه، ټوله هسـتی او نیستی یی وحدت‌یانو لوټ کړی وه.



وسـلوال کسـان په نیمه شـپه کې د نجلا کور ته ورننوتل او خاوند یی ورته د مردکې په ډز شهید کړ چې لا تر اوسه د هغه وژونکي نه دی نیول شوی.

د اسـتاد نجلا لاسـونه چې د ډیرې غوسـی او قهر څخه لړزیدل، د خپلو ترخو خاطراتو څخه یوه یی داسې بیانوی:

«ټولـو تنظیمونـو په خپـل وار جنایت وکړ، زمـوږ خلک یې یا ووژل او یـا یـې هم در په در او بې کوره کـړل. د هغوي څخه نه هیریدونکې ترخه خاطرات لرو. کله چې، پلار می د وحدت‌یانو له منګولو څخه راخلاص شـو، وویل: "کله چـې زه یې ونیولم، د یو کانتینر منځ ته چې ډیر واړه سوري یي درلودل او د پنځوسو څخه تر شپیتو تنو پوری نور کسان هم په هماغه کانتینرکې بندی وو، واچولم. موږ ټولو په نوبت سـره له هغه سـورو څخه ساه اخیستله تر څو ژوندي پاتې شو."»


استاد نادر علی غزنوی

اسـتاد نادر علی غزنوی، یو بل ښوونکې دی چې د ۴۰ کالـو څخه را پـه دې خوا د حبیبـې پـه عالی لیسـه کې پـه تدریس او خدمـت بوخـت دی. نوموړی له دې سـره چې ډیر کمزوری شـوي خـو د خپلې کورنې لپـاره یوازینې هیله او ډوډۍ‌راوړنکې دی، د خپلې ۱۱ کسیزي کورنې سره د دشت برچې چهل‌دختران په سیمه کې د یوی غونډۍ په سر کې د بې‌وزلې ژوند لری.

هغه وایی، څو ځله پېښ شـوی چې ښـوونځې ته د تګ لپاره می کرایه نه درلودله او درس ته د رسیدلو لپاره مې ډیر واټونونه منډې وهلې دی. نوموړی د دی تـر څنـګ چې دولت یی بی‌کاره او بی‌کفایته ګڼې، فاسـد واکمنانو ته یی په وینا کې وویل:

«هغـه ۸ زره معـاش چې ماتـه راکوی هغه بند کـړي او یوازې دری وخته وچه مړی موږ ته راکړی، ځکه چې په دغو پیسـو سره نه شم کولی آن د یوی میاشتې وچه ډوډۍ وپیرم.»

او خپلې خبری یی په دغه وېناو سره پای ته ورسولی:

«ټـول پوهیـږو چـې د ع او غ حکومت ناکام شـوي او زموږ د خلکو هیڅ رنځ په درد نه خوړل کیږی، پر دغه بنسـټ که چیری لږ وجدان هم ولری، ښـه ده چې ګوښـه شـی او د دی څخه ډیر زموږ د اولادونو په برخلیک لوبی ونکړی.»

۳۹ کلنه، نګیتا، د کابل ښـار د آصف مایل عالی لیسـې د ښـوونکو څخه یوه بله ښوونکې ده چې په ناوړه اقتصادی وضعیت کې ژوند تیروی. نوموړې



استاد نګیتا

یوه موده په کارته سخي کې په نمناکه او تیاره ځمکپوړ کې چې د ژړو او خزندګانو څخه ډکه وه د خپلو شپږو ځامنو سره ژوند کاوه. اوس مهال، د چهاردهی په چهارقلعه سیمه کې په یو کور کې چې دوه کوټې لري او آن د لومړنیو چوپړتیاو څخه بې برخې دی، په سختې سره خپله شپه او ورځ تیروي.

د تنظیمي جګړو پر مهال، د نګیتا کورنۍ په افشار کې ژوند کاوه چې د جګړو ډیریدلو او د خپلې مور ټپي کیدلو له امله، یې خپل کور پریښوده. نوموړې وایي چې وروسته له څه مودې څخه بیرته کور ته راستانه شو، د مال او شتمنۍ څخه یې کوم خبر نه وه او کور یې د تنظیمي ټوپکمارانو له خوا لوټ شوی وه.

احمدشاه، د استاد نګیتا میړه، په پل باغ عمومي کې د ساعتجوړونې غرفه لري او هره ورځ د ۱۰۰ افغانیو څخه لږې پیسې لاس ته راوړي او اړ دی چې په هر اوونۍ کې ۲۰۰ افغانۍ د هماغه سیمې پولیسو ته ورکړي تر څو د هغه غرفه له منځه وینسې.

استاد نګیتا د هغه ښوونځي څخه چې تدریس په کې کوي ډیرې دردونکې کیسې لري:

«د میز او څوکۍ څخه کوم خبر نشته او زده‌کونکې د افغانستان په پایتخت کې د ونو سیوري لاندې او یا هم د پلاستیکي فرشونو او ځمکې پر ومخ په زده‌کړو باندې بوخت دی.»

البته دا د هیواد د مرکز ډیرو لږو ښوونکو کیسې دی او د هغوي رنځونو او کړاونو له مخې کولی شو، د هیواد د ولایتو او د کابل ښار ښوونکو رنځونه او کړاونه انځور کړو. ښوونکې چې لږ تر لږه باید په ټولنیزې هوساینې کې ژوند وکړي تر څو راتلونکو نسلونو ته زده‌کړه ورکړي خو په افغانستان کې څه نه دي پاتې چې خیرات راټول کړي.



لیکونکی: نوید نابدل

# لاسوندونه: ایران عراق جګړې ته د افغانانو لیږلو په بدل کې د ایرانی مریانو قلنګ اخیستل



د ایران وینې‌څښونکې رژیم، کلونه کیږی چې زموږ د هیوادوالو د کډوالۍ او کړاونو څخه ناوړه رذیلانه ګټه پورته کړی د هغوې څخه یی ډلې ډلې ویجاړونکې جګړو ته لیږلې دی. هغه جګړې چې یوازې د «ولایت فقیه» د توکمپالو رهبرانو د خزانې ډکولو او ویجاړی او وژلو څخه غیر کومه ګټه نه لری. که چیری نن ورځ زموږ هیوادوال په ډول ډول پلمو سوریې ته لیږدول کیږی، خو د ایران ـ عراق جګړی په لړ کې، زموږ نا پوهه ځوانان د ایران په لاس جوړ شوی اته‌ګونې ډلو له لاری[1] لومړی لیکې ته ولیږدول شو چې د هغوی څخه زرګونه تنه ووژل شو.

«مجاهد»، «سازمان مجاهدین خلق ایران» خپرندوی په ۱۸۳ ګڼه (پنځم کال، ۱۳۶۲ کال د مرغومی په لومړی نیټه) کې هغه لاسوندونه خپاره کړل چې جوته کوې څه ډول جنګې جبهاتو ته د افغان ځوانانو لیږلو په بدل کې، په بی شرمې سره د رژیم څخه پیسې او امکانات لاس ته راوړی.


مجاهد
شماره ۱۸۳
صفحه ۲۹

# اسنادی در رابطه با اعزام آوارگان افغانی به جبهه‌ها

رژیم ضدبشری خمینی، جهت تامین نیرو برای جبهه‌ها، از هیچ نوع "امکان" انسانی رویگردان نیست، منجمله از مدت‌ها پیش، رژیم، بویژه پس از ناتوانی در بسیج گسترده نیرو – به استخدام و بسیج اجباری آوارگان افغانی مقیم ایران و اعزام آنها به جبهه‌های مرگ، روی آورده است. در همین زمینه "مجاهد" تا بحال به مناسبت‌های مختلف، اخبار و گزارشاتی پیرامون این کردار و اعمال ضدانسانی دارودستهٔ خمینی درج کرده است. اخیرا در همین رابطه، اسنادی در مورد اعزام نیروهای افغانی به جبهه‌ها برای ما ارسال شده که عینا آنها را به چاپ می‌رسانیم:

سپاه ضدخلقی خمینی "بدلیل وضعیت خاص جبهه‌ها" درخواست "نیروی ورزیده" از آوارگان افغانی کرده است

اینهم جایزه دادن برای گرفتن حق و حساب بیشتر جهت اعزام آوارگان افغانی به جبهه‌های مرگ

اسامی تعدادی از آوارگان افغانی که در جبهه‌های فرمایشی کشته شده‌اند و دولت آنرا جهت گرفتن حق و حساب به بنیاد جنایت خمینی (بنیاد شهید) ارسال کرده است

## بحران حمل و نقل و اعتراضات...

بقیه از صفحه ۴

از سوی دیگر ایادی رژیم که کار واردات و توزیع لاستیک منحصرا در دست آنهاست، علاوه بر توزیع آن در میان وابستگان و سرسپردگان خود، با فروش آن در بازار سیاه، سودهای کلانی را نصیب خود می‌نمایند.

"هشدار" دادند که: "اینجانبان اعلام می‌کنیم که مشکلات حمل و نقل و کاهش ظرفیت بارگیری خصوصا ناشی از اقدامات عمدی و آگاهانهٔ بعضی از مسئولین وزارت راه و ترابری می‌باشد... همین جریان موجب شده است که هر کامیون ناچار روزها در صف لاستیک، فیلتر و سایر ...

میلیونها دلار بابت سورشارژ و دموراژ به کمپانی‌های کشتیرانی پرداخت شده و میلیاردها دلار نیز به شرکت‌های حمل و نقل خارجی پرداخت گردد." با اینهمه سردمداران جنایتکار رژیم، منجمله رفسنجانی و شکینی با دغلکاری و تزویر تمام، دائما در تبلیغات عوامفریبانهٔ خود تلاش می‌کنند تا مشکلات حمل و نقل کشور و انباشته شدن میلیونها تن ...

قرارداد با بنگاههای خارجی جهت حمل بار به داخل کشور می‌باشد."

در ادامهٔ نامه نیز بار دیگر به این مسئله اشاره شده که: "اخلال در حمل و نقل و کاهش ظرفیت بارگیری موجب شده که هم‌اکنون سالانه ...

اما کامیونداران نیز در صدد آنند تا علیرغم اختناق حاکم بر جامعه و تهدیدات مکرر سران ارتجاع، در مقابل زورگوئی‌های رژیم مقاومت نمایند●

مجاهد
نشریه مجاهدین ★ خلق ایران
... ۱۳۶۲ – تکشماره ۱۰۰ ریال (خارج از کشور معادل یک دلار)

HAMBASTAGi.ORG

لومړنۍ لاسوند د «سپاه پاسدارن انقلاب اسلامی» له خوا څخه یو لیک دی چې د «نیروی اسلامی» سازمان (د اته‌گونې ډلو څخه یو) څخه یی «د ایلام په جبهو کی د ځانګړی وضعیت له امله»، د «چابکو ځواکونه» چټک چمتو کولو غوښتنه کړی ده.



از: سپاه پاسداران انقلاب اسلامی ایلام
به: سازمان نیروی انقلاب اسلامی افغانستان

پس از سلام خدمت برادران عزیز، چون بدلیل وضعیت خاصی که در جبهه های ایلام حاکم است و ضرورت یک نیروی ورزیده که از طرف آن سازمان اعزام شوند احساس میگردد.
خواهشمند است هرچه سریعتر در اسرع وقت اقدام و نتیجه را به این مرکز اعلام فرمائید. با امید زیارت کربلا و کعبه و پیروزی مستضعفان بر مستکبران شرق و غرب.
فرمانده

سپاه ضد خلقی خمینی "بدلیل وضعیت خاص جبهه‌ها" درخواست "نیروی ورزیده" از آوارگان افغانی کرده است

HAMBASTAGi.ORG

د «سازمان نیروی انقلاب اسلامی افغانستان» بل لاسوند د «سازمان مسئول او سرپرست» شاه محمد حسن کریمی لاسلیک سره، «سپاه پاسداران» ته لیږل شوی دی چې د «ورونو» څخه یې د هغوی لپاره چې جبهاتو ته تللې دی د زیاتی تنخواه ترلاسه کول لپاره چانه وهل شوی ده.



بسمه تعالی

سازمان نیروی انقلاب اسلامی افغانستان

دفتر مرکزی

شماره ۶۴

تاریخ ۱۶/۱/۱۳۶۰

به سپاه پاسداران انقلاب اسلامی ایلام غرب

امیدواریم که در سنگر های مبارزه حق علیه کفر والحاد وصدام کافر به توجه صاحب الزمان ( ع ) به پیروزی های چشم گیر موفق باشید.

برادر محترم باکمال معذرت مراتب زیر را بعرض تان میرسانم.

افراد سازمان نیروی انقلاب اسلامی که تحت نظر برادران در مدت تقریبا شش برج علیه لشکر صدام کافر مبارزه نموده در طول این مدت چهار برج معاش به افراد سازمان از قرار فی برج مبلغ ( ۱۵۰۰/۰ ) تومان حقوق برای برادران حواله وتادیه فرموده اید در حالیکه اکثر از برادران دارای فامیل میباشد ومعاش قبلی این برادران بالغ (( ۲۵۰۰ )) تومان بوده.

بناء از برادران مسئول خواهش میرود که در رحصه افراد سازمان مثل برادران سپاه بذل توجه شود - زیرا اکثر این برادران در طول رفت وآمد کرایه ماشین ومصارف راه خویش از سازمان اخذ نموده این پول فقط مصارف سیگار جیب خرچ شان بوده و بعضا از این حقوق - پرداخت شده شما مصارف فامیلی شخصی خویش را تامین نموده است به همه حال در طول مدت هرچند بودجه که درامکانات سازمان بوده از برادران مضایقه نکرده - چون وضع بودجه سازمان هم خوب نیست روی این اصل توجه برادران را خواهانیم. باتقدیم احترام

(( برادر شاه محمد محسن - کریمی ))

(( مسئول وسرپرست سازمان ))

اینهم چانه‌زدن برای گرفتن حق‌وحساب بیشتر جهت اعزام آوارگان افغانی به‌جبهه‌های مرگ

HAMBASTAGi.ORG

وروستنۍ مکتوب بیا هم د «نیروی اسلامی» شخه دی چې د کرمانشاه - ایلام په جبهه کې د وژل شویو کسانو شخه د ۱۳ تنو لیست د هغوی د ځانګړتیاو سره «سپاه پاسداران» ته لیږلې تر څو د «شهیدانو بنسټ» له خوا د هغوی په نوم امکانات او پیسې ولیږدول شي.




د ایران دولت پوری تړلی «فارس خبری آژانس»، ۱۳۹۳ کال د تلې په ۲ نیټه په یو راپور کې د عراق په جنګ کې وژل شویو افغانانو شمیر د «۲۰۰۰۰ څخه ډیر» اټکل وهلې دی. (د ویکی پیډیا سایټ د ایرانی سرچینو پر بنسټ، دغه شمیر یی ۴۵۰۰ تنو په شاوخوا کې ذکر کړی دی) د ایرانی چوپړګرو ډلو مشران لکه خلیلی، محقق، محسنی، دانش، اکبری، عالمی بلخی او نور د افغان ځوانانو له وینو څخه هر یو تن یی میلیونر شول او د پاچاهی ژوند لری او تر دی چې د ډیرو ځامنو د نړۍ په غوره پوهنتونونو کې زده کړې وکړې نن ورځ مرستیالان او دیپلماتان او سفیران دی خو هغه افغانانو چې د دوی خیانت په لامل وژل شوی کورنې یی لا تر نن ورځې په بدمرغۍ کې ژوند کوی. د ایران ځناور دولت د دغه جنګ نوم یی «سپیڅلې دفاع» ایښودی وه خو نه د رژیم د مشرانو د کورنې غړو په دغه «سپیڅلې دفاع» کې برخه اخیستی وه او نه یی افغانې چوپړانو او په پایله کې جلاد خمینی هم د ټولو لوړو شعارونو سره، د «زهرو جام په څښنکلو» سره د تسلیمۍ سر ښکته کړ.

نن ورځ دغه جنایت په ځناوریزه او خاینانه توګه د سوریه جګړې ته په ایران کې د بې‌اسناده افغانانو په زوره لیږلو سره دوام لری، خو د ایران تالې‌څټې او ملی ځناورتوب دولت د دغه ناورین په وړاندی چوپتیا غوره کړی

ده. د «ولایت فقیه» بشـری ضد او ناتاره کوونکې چوپړو روڼاندو یو شـمیر لکـه کاظم کاظمی، قنبـر علی تابش، ابوطالب مظفری، فضل‌الله، قدسـی، رهنوردزریاب، سرور رجایی او نور په ډیر سپین سترګې‌توب سره په ایران کې د واکمنو جلادانو ښـپي خکولوی او د فاشیسـت دولت له لوری ککړی ډالۍ تر لاسـه کوی خو په ویده وجدان سـره په ایران کې د افغان کډوالو د ناورین او رنځ او بدمرغیو څخه ډک ژوند څخه په بی‌تفاوتۍ سره تیریږی.

۱- د روسـی ضد جنګ په لړکې، د خمینی رژیم د پاکسـتان سـره په سیالي کې چې اوو تنظیمونو ته یی وسایل ورکړی وو، خپلې اته چوپړی ډلې یی رامنځ ته کړی چې په «اووګونې» او «اته‌ګونې» باندی وپیژندل شوی. د ایران په لاس روزل شوی اته ډلې عبارت دی له: «حرکت اسـلامی افغانستان»، «سازمان نصر افغانستان»، «پاسـداران جهاد اسـلامی افغانستان» (سـپاه)، «جبهه‌ی متحد انقلاب اسلامی افغانسـتان»، «سـازمان حزب‌الله افغانسـتان»، «نهضت اسـلامی افغانسـتان»، «حزب دعوت اسلامی افغانستان» او «سازمان نیروی اسلامی افغانستان» څخه. دغـه مرتجع او سـتمکاره ډلو چې د افغانسـتان په داخل کې یـی په خپل منځ کې خونې ویجاړونکې جګړی درلودلې، په پای کې د خپلو ایرانی بادارانو د هڅو په پایله کی په «حزب وحدت اسلامی» کې سره یو شوې.




**افغانستان په څلور لسیزو کی**

کارتونیست: عتیق شاهد

لیکونکی: کاوه عزم

# د ونزویلا دولت پر لاسته‌راوړنو د رسنیو سترګې پټول

«واشنګتن تر هر څه د مخه د هغه ریښتینو انسانانو څخه چې ځان‌پلورونکې نه دی، کرکه لری.»

پل ګریک، د ریګن اداري د مالیه وزیر مرستیال



د هوګو چاویز واک ته د رسیدلو له لومړیو ورځو څخه، امریکا د دغه ملی او ډموکراټیک دولت د راپرځولو په لټه کې و او د دغه کار لپاره یې میلیونونه ډالر د دولت ضد ډلو په حساب کې ورډیرې کړی تر څو د دولت ضد لاریونونو او بلواګانو په لاره اچولو سره د ونزویلا دولت شل کړی، خو د دغه هیواد د خلکو په ټینګه اراده او د چاویز هڅې د دي لامل شوي چې دغه ټولې دسیسې شنډې شي. کله چې دغه ټولې دسیسې ناکامي شوي، امریکا چاویز په سرطان اخته کړ چې په پای کې د دغه ناروغۍ له امله مړ شو.

خو، د امریکا دولت د ونزویلا دولت په وړاندی د دسیسو څخه لاس په سر نه شو او د چاویز مرګ څخه وروسته یي هم د هغه هیواد په داخلی چارو کې لاسوهنو ته ادامه ورکړه، ځکه چې د چاویز سنګرمل او ملګری، نیکلاس مادورو د ټاکنو په لړ کې واک په لاس کې ونیو تر څو د هغه ولسي لارې ته ادامه ورکړی. د امریکا دولت هڅه کوي تر څو په درغلیو، چل ول، دوکو، تورونو او لاس وهل شوي خبرونو باندي د دغه هیواد ملی- ډموکراټیک دولت له منځه یوسی. د امریکا امپریالیستی نیواکګر دولت د سترو رسنیو په ملاتړ د مادورو په وړاندی زهرجن پروپاګند په لاره واچاوه او میلیونونه ډالر یي هغه مخالفو ګوندونو ته چې د هغه پانګوالو څخه جوړ شوي و چې لاسونه

یی د خلکو د لوټ او تالان څخه پرې شـوي حسـاب کې واچول. خو د نړۍ مخکښې رسنیې په حیاتي برخو کې د ټولنې د بې‌وزلو طبقو د ژوند د بدلون په هکله د مادورو حکومت په پرمختګونو سترګې پټوی او په ټولو پرده اچوي.

د بیلګې پـه توګـه، د دغـه پرمختګونو څخه یـو څو د مثال پـه راوړم تر څـو د افغانسـتان ولس لپاره عبـرت وي که چیری خلک د یو ولسـی دولت اداري لاندي کار او هڅې وکړی، هیڅ ځواک یی د لارې پر مخ خنډ نه شي ګرځیدلی:

**روغتیا:**



د هماغـه لومـړی ورځـې څخـه، مـادورو ژمنه وکـړه چـې د هیواد روغتیایي سیسـتم به بنه او روغتیایـي چوپړتیاوی بـه ټـول خلکو لپـاره وړیا کړي. هغه پـه خپل ژمنه وفادار پاتې شـو او د هیواد په هرګوټ کې یی د روغتیایي چوپړتیاو کړنلارې تـه پراختیا ورکړه چې نن ورځ ۶۰ سـلنه څخه ډیر خلـک، د هغې څخه ګټه پورته کوی. او د دی تر څنګ، د مادورو دولت لرو پرتو او خوارمیشتو سیمو تـه هم وړیا چوپړتیاوي چمتو کـړي. د ۲۰۱۷ کال په مارچ کې، مادورو د یو فرمـان پـه لړ کې د خپلو ډاکټرانو تنخواوي د بنـه چوپړتیـاو وړاندی کولو او هڅولو لپاره ۵۰ سلنه ډیری کړې.

سـږکال «د پراخیتا لپـاره د ملګرو ملتونو سـازمان ګړنلارې»، د لاتینې امریـکا هیوادونـو په منځ کې ونزویلا د «انسـانی پراختیا ځانګې» د لیسـت په سـر کې ځاي ورکړ. د «روغتیا نړیوال سـازمان» راپورنو پر بنسټ، په دغه هیـواد کې د ماشـومانو مړینه، د زړه ناروغي او ایـچ‌آی‌وی خپلې ډیري ټیټې کچې ته رسیدلي دي.

**بې وزلو ته د جونګړو جوړول:**

په ډیرو هیوادونو کې د بې‌کورۍ ستونزي ډیري دي چې د امریکا متحده ایالات هم له هغې سـره لاس او ګریوان ده. خو ونزویلا پر دغو سـتونزو بریا مونډلې ده چې د پیرو څخه وروسـته لږ شـمیر بې‌کوره خلک (۶،۶۸ سـلنه پـه شـاوخوا) لري. د ۲۰۱۷ کال په جنوری کـې، د ونزویلا دولت یو میلیون



او څلورسو زره کورونه ښوونکو او دولتي کارکونکو لپاره وړیا او د عامه خلکو لپاره په ډیره ټیټه بیه وویشل. او ددی تر څنګ، مادورو اعلان وکړ چې دولت یې د کیوبا او هایتي د طبیعي پېښو قربانیانو لپاره هم کورونه جوړوي او د ۲۰۱۷ کال د جنوری څخه دغه کار په عملي توګه پیل کړی. برسېره پر دې، د کور جوړونې پروګرام نه یوازي په ښارونو کې بلکه په لرې پرتو سېمو کې ادامه لري.

**ښوونه:**



په داسې حال کې چې ونزویلا د اقتصاد له نظره د ستونزو سره مخ ده خو له دی سره بیا هم د هیواد ډیر حیاتي ځانګې ته چې ښوونه او روزنه ده ځانګړې پاملرنه کوي. مادورو پر دغه عقیده دی چې د هیواد بنسټ روزنه ده او دا باید کلکه جوړه کړو. له همدې امله، د مادورو دولت د چاویز تګلاری په ادامې سره یې د هیواد ښوونیز سیستم په نړیوالو معیارونو او نوې ټکنالوژۍ سمبال کړی دی. او څه د پاسه څلور میلیونه او اته سوه زره کمپیوټرونه او د ټکنالوژي ۱۰۰ میلیونه درسی کتابونه یی په ټول هیواد کې ویشلي دي. له بلې خوا، د ونزویلا دولت میلیونونه ډالر د وړیا ټرانسپورټ لپاره او د کلتوري، سپورټي، هنري او موسقي مرکزونو په جوړولو باندي لګولې دي. د مادورو همدغه سیاست د دي لامل شو چې ونزویلا د نړۍ په کچه په لومړنیو زدکړو کې، د ۹۵،۴ سلنه باسوادو خلکو په درلودلو سره شپږم مقام او د لاتینې امریکا هیوادونو په منځ کې لومړی مقام ترلاسه کړی.

**د وګړو حقونه:**

د مادورو دولت د وګړو حقونو په ځانګه کې ستر کارونه ترسره کړي دي چې د هغې ټولګې څخه کولې شو چې د ښځو او همجنس‌ګرایانو حقوقو ته



د ځانګړې پاملرنې څخه یادونـه وکـړو. پـه ۲۰۱۳ کال کـې، دولت د ښـځو چـارو وزارت بودیجه لوړه کـړه تر څـو د ماشـومانو سـاتلو چوپړتیـاوې، روغتیایي مشـورې، د کار زدکړي او سیاسـي زدکړي په ښـه توګه ترسـره شي او په ۲۰۱۴ کال کې، یی د فمینیستانو فعال دیلسی رودریګرز، د بهرنیو چارو وزیرې په توګه وټاکله.

مادورو د هغه هیواد تورپوټکو او بومیانو ته په حکومت کی برخه ورکړه او برسـیره پر دي یي، «د افریقایی زدکړو مرکزی انسـتیټیوټ» او بومی خلکو لپاره د تغذیې غوره وزارت رامنځ ته کړ.

پـه ۲۰۱۶ کال کې، د ونزویلا سـترې محکمې اعـلان وکړ چې دولت باید پرته له تبعیض څخه د تراجنسـیانو د حقونو سـاتنه وکړی. برسـبره پر دې، دولت د هغوي جنسـی هویـت پیژندنې لپاره، هغوې تـه ځانګړې پیژندپاڼې وویشلي.




**د ټولوژنو پر وړاندې د خلکو یووالی**

کارتونیست: Parker



لیکونکی: حامد

# جلریز، د مرګ او تیښتې لاره



د هماغه کهیځ له پیل څخه مسافر د یو بل سره خبرې نه کوی او یوازې د یو سلام په کولو سره په ګاډی کې یوځاي کښیني. ټول له ویرې او سره سره خپل مقصد ته د رسیدلو په لور، باید د جلریز د لارې ګوابسمن سفر- د مرګ او تیښتې لارې ـ څخه تیر شي.

جلریز د کابل په ۴۰ کیلومتری کې او میدان‌وردکو ته یو د ډیرو نژدو ولسوالی څخه ده چې ناامنې او قربانۍاخیستنه یې مشهوره ده خو هیڅا یې کوکاری ندی اوریدلی. د بل لور څخه د جلریز لاره مرکزي ولایتونو (بامیان، غور، دایکندی) او د دای‌مرداد ولسوالی، د میدان‌وردک د بهسودو اولی او دویمې حصې ته تر ټولو نژدې لاره ده چې بنایی په راتلونکي کې د مرکزي افغانستان لویه لاره هم وي.

د جلریز ولسوالی د مختلفو قومونو جوړښت سره پښتون، تاجیک، هزاره او زیارکښان لکه بزګران، بڼ‌لرونکی او لر شمیر هم شپنکي، د ترل شوي غرونو په اوږده دره کې مېشت دي، د میوه لرونکو او چنارونو دنګو ونو په واسطه پوښل شوي دي. د بامیان ولایت په لور د دغه اوبدل شوي ځنګل له منځ څخه د میدان‌وردک-بامیان لوي لارې په نوم تنګ سړک تیر شوی، هغه لار چې څو ځله یې د بیلابیلو مرکزي سیمو او ټولو ولایاتونو خلکو څخه قربانۍ اخیستې ده. کله چې د بامیانو خلکو څخه ډک موټر خطرناکې سیمې

(د جلریز ولسوالۍ) ته ننوځي، د بدن ویښتان ودریدیږي او د انسان سترګو په وړاندې وار د مخه تېرې شوې ناوړه پیښې انځوریږي. دلته هره چړاې او موږ زړه‌بوږنونکې خاطرې لرې او هر رنګ شوي کور او پُل یوه غمجنه کیسه لرې.

د کورنو او باغونو رنګ شوي او سوري سوري دیوالونه، د ګوتو په شمیر د لارویانو تګ راتګ، دا ټول د دغه جګړې‌ځپلې سیمې د ځیرې شاهدي کوي؛ د جلریز سړک د ماینونو د چاودنو له کبله ویجاړ شوی دی؛ د لښتیو اوبه په سړک رواني دی ځکه چې ټول پلونه او پلچکونه ویجاړ شوي دی؛ نیمه‌سوځیدلې امنیتی پوستې چې په هغې کې یو سرتیري هم نه لیدل کیږی د امنیت احساس په ځاې، د مسافرو په زړه کې ډیره ویره او ډار را ژوندي کوي؛ او...

ویل کیږی چې دغه پوستې یو د بل څخه ډیر لریوالې نه لری د حکومت او طالبانو تر منځ لاس په لاس کیږی او طالبان د هغو په نیولو او د «پاټک» په اچولو، مسافر د سختو پلټنو او پوښتنو لاندې نیسی او خپل په نښه شوی ښکار لاس ته راوړی.

ع.د هغه کس چې پخوا یې په دغه سیمه کې خدمت کاوو او دمګړی د پولیسو له دندې څخه لرې شوي دي زما د دوه پوښتنو په ځواب کې چې ولې د جلریز د لارې پوستې د دولت او طالبانو په منځ کې لاس په لاس کیږی او ولې په پوستو کې سرتیرې شتون نه لرې، داسي وویل:

«ځکه چې دولت په هغه ځاي کې د بیوزلو پراتو عسکرو په کیسه کې نه دی؛ مرستندوي ځواکونه ناوخته رارسیږی؛ لوجستکی او نظامی اکمالات لږ دی او طالبان په ښه مورال او غښتلو وسلو سمبال دی؛ هځول هیڅ نشته او آن قومندانان هم ښه چلند نه لری نو په دغه بنسټ سرتیرې هم د خپلو کورنیو لپاره تنخوا او ډوډۍ ته سترګې په لاره، اړ دي چې خپل ځان څخه ساتنه وکړی ترځو ونه وژل شي. خو دا حقیقت نه لری چې هلته سرتیرې نه شته دي. سرتیرې د مورچل په منځ کې د طالبانو په کمین کې او طالبان د باغونو په منځ کې د سرتیرو په کمین کې ناست دي. تر ټولو کوچنې تیروتنه د دې لامل ګرځې چې د طالبانو د نښې لاندې راشي، په همدغه لامل باید له احتیاط څخه کار واخیستل شي او نه باید په آزاده توګه تګ راتګ وشي. هغه څه

چې شتون نه لري پر طالبانو او یرغملو باندې برید دی چې ځایونه یې هم معلوم دي.»


د باميانو سړک

د چاپیریال تاندتیا په طبیعي توګه، زرغونه دره او په شنو ونو پوښل شوی ځنګل، د جلریزه فضا او د هغې ښکته او پورته شوی سړک د هر لاروي په سترګو کې ډېره ښکلې منظره جوړوي او د ننداري لیوالتیا په زړه کې ژوندی کوي خو له بدمرغه چې واکمن ځناورتوب، د جنایتکارانو لپاره زمینه چمتو کړې ده چې په کمین کې ناست دي تر څو بدمرغه مسافر د خپلو شوکو او ځناورتوب قرباني کړي.(۱)

د مسافرانو څخه يو تن چې د خصوصي بنسټ کارکونکې دی ما ته وویل: «هر کله چې زه له دغې سیمې څخه تیریږم د بدن مې ساړه کيږي او فکر کوم چې د دغه دیوال او هغې سترې ونې ډډ تر شا يو طالب په مورچل کې ناست دی.»

د جلریز بازار د طالبانو رنګ او بوی لري ختیني هتي او زړې غرفې د خپلو لړو پیریدونکو سره د خلکو د بې‌وزلۍ او ناامنۍ شاهدی کوي. موټرچلوونکي هم د ډار او خطر په احساس سره هڅه کوي تر څو بې له ځنډ څخه په چټکۍ سره، له دغه سیمې څخه ډېر ژر تیر شي.

د جلریز په بازارګۍ کې ۵۵ کلن هېیوال زما پوښتنې ته په ځواب کې، اوسنۍ وضعیت یې دا ډول تشریح کړ:

«امنیتې حالت هیڅکله ښه نه وه، که چیرې ۱۰ ورځې ښه وي، ۱۵ ورځې نور جنګ دی او لارې تړلې وي. دولت ډېر بې‌کاره دی یوازې د کابل امنیتې حالت ته یې پام دی نه د کلیو خلکو ته. د دې ځای د خلکو وژل، برمته کول او د خلکو په ناموس تیری ارګ‌ناستو لپاره بې‌ارزښته دی او یا هیڅ نه خبریږي. هغه کسان چې لږ څه لرې خپل ځانونه يې له دغه ځای څخه ویستلي دي او کابل ښار ته یا میدان‌ښهر ته تللې دي، یوازې موږ بې‌وزله او تش‌لاسې خلک دلته پاتې یو ځکه چې بله کومه لاره نه لرو.»

د یو واټن له وهلو څخه وروسته د مسافرانو په منځ کې په ناځاپي توګه چوپتیا له منځه ځي، د ګاډي ټیپ لګول کیږي، د خلکو په څیرو کې خوښي راڅرګندیږي، مسافران په هوساینې سره ساه اخلې کېښې او ټوکې پیلیږي او هـر څوک یو څه وایي. یو ځوان چې د دولت کارکونکې دی په ورین تندي دا خبرې کوي: «اوه په پیر دی رحمت شه! د اسټرالیا له اوبو څخه تیریدل بنه دي نه د جلریز څخه تیریدل».



د بامیانو سړک

یـوازې د جلریـز ګواښـمنه لاره ټولـه سـتونزه نه ده. په اوسنې حالت کـې آن په پلازمینه کـې د خلکو ځـان او مال خونـدی نـه دی او د ټول هیـواد لـوې‌لارې د ډیرو سـترو سـتونزو سـره مخ دي چـې د ارګ پـه دننه او بهر کې د یو موټـې هیوادپلورونکو د خپلو بهرنیو خاوندانـو په مشـوره زموږ د بې‌وزله ولس ژونـد کړی ورځ تر بلې راتنګوي او پخپلـه پنډیـږي. نو ناامني، بې‌کاري، پراخ فسـاد، غوړه‌مالان، خلکو ضد او زرګونو نورو وژونکو ویروسـونو، دولت په اصطلاح ملی وحدت په داسې ډول له خپل ځان سـره رانغاړلې دي چې نه باید د هغوي څخه د خلکو د ځان او مال ساتلو هیله ولرو.

یـوازې د ملي یووالـي په رامنځ ته کولـو او د ملی-ډموکراتیک نظام په رڼا کې د افغانسـتان ټولو قومونو د خلکو سراسـری پاڅون سـره کولای شو چې د امنیت، ټولنیزې سوکالۍ او اقتصادي پراختیا څخه خبرې وکړو او سوله او ټیکاو منځ ته راوړو.

۱ - آوازه ده چې د جلریز او غوربند لارې برمته کونکې چې مرکزي ولایتونه سره نښلوي په کابل، بامیان او د ټولو سـیمو کې په ځانګو کې سـیمیز جاسوسـان ګماری او د نظر لاندي کـس له حرکت سـره سـم، د هغه کـس او د ګاډي ځانګړتیاوي نومـوړو باندونو ته چې له طالبانو سـره یولاسـی دی ورکوی. آن که چیری هغه کس د خپلې شتمنې او دندي څخه منکر شي، برمته‌کونکې د دغه جاسوسانو په مرسته، یا ډیر پیسې اخلې او یا یې په مردکې ولی.



لیکونکی: پویا

# آریا ثابت، د جبار ثابت ځوی زندان ته ولیږدول شو



آریا ثابت، د جبار ثابت (د افغانستان مخکینۍ لوی څارنوال) ځوي چې په امریکا کې یې د جراحۍ ډاکتر په توګه دنده ترسره کوله، د خپل مسلک څخه د ناوړې ګټې پورته کولو په تور، په ۲۰ کاله بند محکوم شو. هغه به خپلو ناروغانو ته د جراحۍ غیراړینوعملیاتو وړاندیز کاوه تر څو له دې لارې ډېرې پیسې خپل جیب کې واچوي. هغې په دغه چلوول سره آن وکولی شو، یو کور د حوض، دالان او شانداره ځمکو سره د دوه میلیونو ډالرو په ارزښت واخلې. د امریکا حقوقي کارپوهانو څخه یو تن، نیل روکیند وایي: «هغه کارونه چې هغه ترسره کړي دي نشم کولې کوم بل وضاحت ورکړو پرته له حرص او تلوسې څخه.» آریا ثابت په خپل جرم اعتراف کړی او اوس مهال د خپلو مدعیانو په منځ کې د «حریص قصاب» په نامه یادیږي.

د «لوکل ۴» شبکې راپور له مخې، ثابت د دې تر څنګ چې خپلو ناروغانو ته د غیر اړینو عملیاتو وړاندیز کړی، او د درملنې په وخت کې یې د هغه طبي ماشینونو څخه هم ګټه نه ده پورته کړې چې لوظ یې کړی و او په عمومي توګه یې ټول عملیات ډېر کمزوري ترسره کړي دي. د دغه حریص قصاب له قربانیانو څخه یو تن، شیری وایي:«هغې وویل زما د ملا په تیر یې یو کلک شئ ایښی دی، خو ایښودلی نه وو.» فدارل څیړونکي وایي، شیری د هغه سلګونو قربانیانو څخه یو تن دی، ثابت په دغه ټکماریو سره میلیونونه

ډالر د خپلو مراجعینو څخه غلا کړي دي.

هغه د خپل ګلبدینی پلار په سیلۍ راوړو پیسو باندي امریکا ته واستول شو او تحصیل ب وکړ چې په پای کې د مغزو او عصابو جراح شو او په کالیفورنیا کې په کار بوخت و. خو د دغه کار جواز یي له څه موديې وروسته له لاسه ورکړ او بیا یې میشیګان ایالت ته کډه وکړ.

په یقین سره چې د عبدالجبار ثابت په اړوند هم قضیې شته دي، د هغې ټولګې څخه، نوموړی په ۲۰۰۷ کال کې، د طلوع تلویزیون اووه تنه خبریالان د یو راپور خپرولو له امله چې د هیواد قضایي سیستم په اړوند یي څرګندونې کړي وي په زوره خپل دفتر ته راوړل او د وهلو او ټکولو لاندی یي ونیول. نوموړې ټلویزیون د عبدالجبار په اړوند شکایت ثبت کړ چې تر نن ورځې پوري یي پایله نامعلومه پاتی ده. او د دي ترڅنګ، دغه کرغیړن انسان یو وخت باټي وهلی چې فاسد او قاچاقبر کسان به محکمې ته راکاږم چې تر پای یی یو تن هم محکمې ته را نه بنسکه او د پیسو په لاسته راوړلو یي ژبه ګنګه شوه.

د دغه پلار او ځوي څناورتوبونه د ګلبدینانو او جنایتکاره تنظیمونو په ماهیت پوري تړاو لری، په دې کې هیڅ شک نشته چې «حریص قصاب» د «کابل قصاب» میراث دي او دغه ټول جنایتکاران پرته له «قصابی» څخه کوم بل مسلک نلري.




**نتانیاهو او اردوغان، د یوې سوړې ماران**

کارتونیست: Carlos Latuff



لیکونکې: مریم مروه

# مارسیلا: مور مې زموږ ټولې هیلې او خوښۍ له خپل ځان سره د خاورو لاندې کړې



۱۳۹۵ کال د مرغومـی په ۲۲ نیټه د پارلمان په تیټ رتبه مامورینـو چې ډیری یې د خپلو کورنیو یوازیني ساتونکې وو د ځنـاورو طالبانـو ځانمرګې بریـد وشـو چې پـه پایله کې یې لسګونو تنو ته مرګ ژوبله واوښـته چې ډیری بې‌وزله کورنۍ یې په ماتم کینولې. ۴۱ کلنه فریده د دغې غمیزې پیښې له قربانیانو څخه یوه وه. هغې چې شاوخوا ۹ کاله وړاندې خپل خاوند ملا محمد یې د سـرطان ناروغۍ له امله د لاسـه ورکړی وو. د خپلو څلور اولادونو یوازینۍ ډوډۍ راوړونکې وه.

مارسـیلا ۲۰ کلنه، احمد ضیا ۱۸ کلن، شکیب ۱۶ کلن او نازنین ۹ کلنه چې ټول یې د ښوونځی زده‌کونکې وو د مور په ویر ډوب او د هغوی وضعیت د هـر انسـان زړه دردوی. هغـوی د خپل د ماما کور په یـوه څنډه کې په یو نمجنه کوټه کې د ستونزو ډک او ږ بیوزلۍ ژوند لري. مارسیلا د خپل ماما له وضعیـت څخه چې په هلمند کې دی وویل: «څو ورځې د مخه میرمنه یې د ناروغۍ له امله عملیات شـوه خو هغه آن د کرایه پیسی نه درلودلې چې کابل ته راشي.» هغه چې د ماما پرته بل هیڅوک نه لري، د خپلو وروڼو او خویندو د راتلونکې لپاره چې ډیر اندیښنه لري.

د پالنې دروند پیټی چې د مارسیلا په ډنګرو اوږو باندی ولیدلې، زموږ د لیدلو سـره یې سـمه مرې ونښته او د سـترګو څخه یې اوښکې روانې شوې.



۴۱ کلنه فرید ۱۳۹۵ کال د مرغومی په ۲۲ نیټه د ځناورو طالبانو ډلې د ځانمرګې برید له امله په شهادت ورسیدله.

د یوې اوږدې مودې د تیریدو وروسته مونږ یوازني هغه کسان وو چې د هغې ډاډګیرنې لپاره تللي وو نو په دغه بنسټ یې ډیر غوښتل له مور سره د زړه درد شریک کړي. نوموړې چې خپلې هیلې یې د لاسه ورکړې وې، لومړنې خبرې یې دغه وې چې د مور په مرګ سره د هغوی لپاره ژوند ستونزمن او تیاره شوی او د مور سره یې، خپلې هیلې او خوښۍ هم ښخې کړې دي. مارسیلا په داسې حال کې چې د دولت او چارواکو څخه کرکې یې ټول وجود نیولې وو او په غوسې سره یې خبرې کولې، ځواک یې نه درلوده چې خپلې جملې بشپړې کړي:

«مورږ مې د همدې دولت لپاره ووژل شوه، خپل امنیت په ښه توګه نیولې شي، یو وکیل او یو شتمن نه وژل کیږي تل غریب خلک ولې؟ آیا دولت تر دغه کچې بې‌کفایته دی چې د دغه ولس هیڅ په درد نه خوري.»



د فریدې د کورنې د اوسیدو ځای

۹ کلنه نازنین چې هیڅکله یې د پلار مینه نه وه لیدلې مور یې د ژوندانه یوازنۍ هیله وه، د خور په وینا یې هغه په بشپړه توګه په مور پورې تړلې وه او د هغې د شهادت وروسته نه ښوونځې ځي او نه د کور څخه د باندې تللو او د خپلو همزولو ماشومانو سره لوبې کولو لپاره کومه مینه لري. نازنین په بشپړه توګه یوازې شوی او پر له پسې ژاړي.

هغوی وایي دولت هغوی ته په پیل کې ډیرې ژمنې ورکړې خو د تل په څیر په عمل کې یې هیڅ یوه عملي نه شوه او تر دی چې د خپلې مور رښتینې او اکرامیه معاش یې هغوی ته نه دی ورکړي.



بی‌بی‌گل، د فریدې مور

۷۰ کلنه بی‌بی‌ګل، د شهیدې فریدې مور ده چې د لور ناڅاپي مرګ هغه کمزوري او بې‌وسې کړې په رنځېدونکې آه او کوکارو یې په اشرف غني، عبدالله او نورو لعنت ویلو:

«لورکې مې له پیل څخه هیڅ ښه ورځ نه وه لیدلې، هره کړې شهیده وو. ارمان چې کولای مې شوی د هغې د دغه ماشومانو خدمت وکړم. خدایه زموږ د دردیدلو او مظلومو خلکو په کوکارو او دعا سره اشرف غني واخله پاچاهي یې په هغه باندې نسکوره کړه او سوکالې راوړه. خدایه د اشرف غني او د نور اولادونه په همدغه ډول ټوټه ټوټه کړه چې د غریبانو او کونډو او یتمانو د زړه څخه خبر شي.»



شکیب او نازنین

۱۶ کلن شکیب چې د خپلې خور په څېر یې رنګ اولوتې وو اوښکې یې تویولې په وروستیو شیبو کې یې غبږ لوړ کړ:

«د مور د فاتحې په ورځ مې بیا هم درې ځانمرګي راغلې وو خو د دې لپاره چې خپله هلته وو هغوی یې ونیول او هغه وکیل چې غوښتل یې ځانمرګي دننه راولي هغه یې هم ونیوه. خپله ځانمرګو سره مرسته کوي. دولت خپله په دغه کارونو کې لاس لري. ګوري چې په دوی هیڅ نه کیږي تر دې چې لا تر اوسه یې یو تن هم ټپي شوی نه دی.»

# «د افغانستان د همبستګی ګوند» خپروني تاسو کولي شی په کابل او ولایاتونو کې له لاندي پتو څخه تر لاسته کړئ:

## کابل

**نمایندگی انجمن نویسندگان افغانستان**
جوار پارک تیمور شاهی

**شرکت کتاب شاه محمد**
چهارراهی صدارت

**کتاب فروشی مقدم**
مارکیت جوی شیر کابل

**کتابخانه وحدت**
نیاز بیک، دکان حاجی

**کتاب فروشی معلم محمد وحید**
د افغانستان آریانا مارکیت، دکان اول

**کتاب فروشی رفیع الله**
پل باغ عمومی، لب سرک، زیر پشتنی بانک

## هرات

**کتاب و قرطاسیه فروشی عبدالجبار "یعقوبی"**
جکان غوند یازده،
مقابل مکتب متوسطه خلیل الله خلیلی

## بلخ

**کتاب فروشی عبدالغفور عرفانی**
**کتاب فروشی عبدالرازق انصاری**
مزار شریف، چهارراهی بیهقی،
پوسته خانه شهری

**کتاب فروشی فیروز**
مقابل نشنل بانک پاکستان

## تخار

**فوتوکاپی آمو، نجیب الله رحیمی**
تالقان، بندر بدخشان، مقابل فوائد عامه،
دکان نمبر ۱۰

## کندز

**قرطاسیه فروشی محمد هارون**
جاده ولایت

## بامیان

**کتاب‌فروشی محمد ظاهر حیدری،**
جوار سبزی فروشی، شهر بامیان

## غزنی

**کتاب و قرطاسیه فروشی توحید**
شهرک البیرونی، جاده خاتم الانبیا

**کتاب و قرطاسیه فروشی احمدی**
پلان سوم، کوچه زیارت خواجه علی

**کتاب فروشی فرهنگ ۱**
جوار کتابخانه عامه

**کتاب فروشی فرهنگ ۲**
سرک تانک تیل کهنه، رسته نجارها

## ننگرهار

**کتابفروشی سیار**
ولسوالی خیوه

**مازیګر کتابپلورځی**
اسحاقزی مارکېټ، جلال‌آباد

## کنر

**کتابفروشی احمد ظاهر**
چغانسرای، سرک قومندانی

## فراه

**کتابفروشی عزیزی**
واقع ناحیه سوم،
مقابل لیسه نفیسه توفیق میر زایی

## بغلان

**کتاب و قرطاسیه فروشی فردوسی**
شهر پلخمری، مقابل غضنفر بانک

## بدخشان

**کتاب و قرطاسیه فروشی ضیایی**
فیض آباد، دشت شهدا، مقابل تربیه معلم

## نورستان

**عکاسخانه، فوتوکاپی و قرطاسیه فروشی میا**
روبروی مسجد انصاف مارکیت، پارون - نورستان

# دردیدلو هیوادوالو،

که د خپلواک، آزاد او دموکرات افغانستان غوښتونکی یاست؛ که د افغانستان د سرلوړی او بې‌وزلو خلکو د هوساینې هیله په زړه کې لرئ؛ که غواړئ د نیواکګرو او د هغوی چوپړانو د جنایتونو او خیانتونو پر وړاندې خپله دنده ترسره کړئ، نو د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» سره یوځای شئ او د خپل ګوند خپرونې په پراخه توګه د خلکو په منځ کې خپرې کړئ.


پته: پست بکس شمیره ۲۴۰، مرکزی پسته‌خونه
کابل ـ افغانستان

ګرځنده: 0093-700-231590
بریښنالیک: info@hambastagi.org
ویب‌پاڼه: www.hambastagi.org
فیسبوک: facebook.com/Afghanistan.Solidarity.Party
facebook.com/hambastagi
تویتر: twitter.com/solidarity22
یوټیوب: youtube.com/AfghanSolidarity


د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د خپلو کړنو مخکې وړلو لپاره د غړو حق‌العضویت او د پلویانو مرستو ته اړتیا لري. په خپلو نقدی مرستو له مونږ سره همغږي شئ:

Azizi Bank
Koti-e-Sangi Branch, Kabul, Afghanistan
Name: Sayed Mahmood
Account No: 001903204644917

# Hambastagi
(Solidarity)

A Publication of the Solidarity Party of Afghanistan

11

PASHTO





شهید عبدالخالق زموړ د هیواد رښتینې اتل دی


۱۱ مخ


قیمت: ۲۵ افغانی